# رسمي جريده

## دافغانستان دجمهوري دولت

# اساسي قانون

---

# قانون اساسی

Ketabton.com

## دولت جمهوری افغانستان

لومړی گڼه

پرله پسی لمبر (۳۶۰)

نیټه : دوشنبه د۱۳۵٦کال دوری دمیاشتی (۱۵)

ketabton.com - The Digital Library

دامتیاز خاوند : دعـــــدل وزارت
مسؤول مدیر : م . حسین «طغیان»
پته : دعدل وزارت - کابل - افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د جمهوری دولت رسمی خپرونه

# رسمی جریده

## د افغانستان د جمهور رئیس بسکلل

دلوی خدای په نامه اودافغانستان دنجیبو خلکو دنیکمرغی په هیله زه محمد داؤد دافغانستان لومړنی جمهور رئیس دهغی وظیفی پهاساس چه دجمهوری دولت دلومړنی لوی جرگی نمایندگانو د۱۳۵۵ هجری لمریز کال دسلواغی د میاشتی دپنځه ویشتمی نیټی دمصوبی پهاستناد درأیو په اتفاق ماته را سپارلی ده نن دپنجشنبی په ورځ د۱۳۵۵ هجری لمریز کال دکب دمیاشتی په پنځمه نیټه دافغانستان په مرکز کابل کښی دا اساسی قانون توشیح کوم او انفاذ ئی اعلاموم .

دافغانستان د جمهوری دولت لومړنی جمهور رئیس محمد داؤد

۱۳۵۵ کال دکب پنځمه

## توشیح رئیس جمهور افغانستان

بنام خداوند بزرگ و به آرزوی سعادت مردم نجیب افغانستان من محمد داؤد اولین رئیس جمهور افغانستان به تاسی از وظیفه ئیکه نمایندگان نخستین لویه جرگهدولت جمهوری به استناد مصوبه تاریخی ۲۵ دلو ۱۳۵۵ هجری شمسی به اتفاق آراء بمن سپرده است این قانون اساسی را الیوم پنجشنبه ۵ حوت ۱۳۵۵ هجری شمسی در کابل مرکز افغانستان توشیح وانفاذ آنرا اعلام مینمایم .

محمد داؤد اولین رئیس جمهور دولت جمهوری افغانستان

پنجم حوت ۱۳۵۵

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

## سریزه

له هغه ځایه څخه چه ملتونه او ټولني دتاریخ په اوږ دو کښې تـل دتحول او تکامل په حال کښې دي.
او له هغه ځایه چه دا واقعیت زموږ په تاریخي ژوند کښې دیو ملت او دبشري ټولني دیو جز په حیث ښکاره شوی دی ،له دی کبله:
دیو داسي پتمن ژ وند دتامینو لو دپاره چه دعدالت او کفایت پهمتینو بنسټو نو ولاړوی او دنیکمرغی او هوسایی او اطمینان څخه ډک وی.
د ۱۳۵۲ کال دچنگاښ دشپـږ ویشتمی نیټی دملي، اجتماعـی ، اقتصادي ، سیاسي او فرهنگـی سپیڅلو ار ما نونو دتا مینولودپاره.
دملي یو والـی دورځ پـه ورځ زیا تیدونکي ټینگښت او پیاوړ تیا تضامن او تساند او داجتماعـی عدالت دتا مینولو او زموږ پهټولنه باندې دحاکمو عیني او ذهني شرایطو ملي فرهنگ او تاریخي واقعیتو نو سره سم په مترقي او مثبته تو گه دتضا دونو دمحو کولو دپاره، زموږ دهیواد دخلکو پرتمیني ما ضـی او برمیال تاریخ ته دژوری درناوی او دهیواد دخپلواکي او ملي هویـت دساتني په لاره کښې ددوی پرلهپسي مبارزې او ددوی دتاریخي او انساني رسالت دپر ځای کولو دپاره .

## دیباچه

از آنجائیکه ملل و جوامع پیوسته د رمسیر تاریخ در حال تحـــول وتکامل می باشند ، واز آنجائیکه این واقعیت در زندگی تاریخی مـــا بحیث یك ملت و جزء جا معه بشری پدیدار گشته، بناء :
جهت تامین یك زند گی آبرو مند، استوار برپایه های متین عدا لـتو کفایت ومملو ازسعادت، رفـــاه و اطمینان.
جهت تامین آر مانهای مقدســـس ملی، اجتماعی، اقتصادی. سیاسیو فرهنگی انقلاب ۲۶ سرطان ســـال ۱۳۵۲ .
جهت تقویه و استحـــکام روز افزون و حدت ملی، تضامن وتساند، تامین عدالت اجتماعی ، امحـــای تضاد ها به شیوه مثبت و مترقـی مطابق به واقعیتهای تاریخ ،فرهنگ ملی و شرایط عینی و ذهنی حاکم بر جامعه ما بمنظور احترام عمیق به تاریخ باشکوه و گنشته پر عظمت مردم کشور ما، و مبارزات مستدام شـان در راه حفظ هـویت ملـــی واستقلال کشور و ایفای رسالـــت تاریخی وانسانی آنها، با ایمان به

# رسمی جریده

په لوی خدای (جل جلاله) باندی دایمان در لودلو او داسلام دسپیڅلی دین داساسو نو په پیروی، او په پای کښی ددی ټولو هدفونو او مقصدونو دتحقق دپاره .

مونږ دافغانستان خلکو دعصر دغوښتنو او شرایطو په درك کولو سره تصمیم نیولی دی چه خپل ملی ژوند د آزادی ترقی ، حق ، عدالت اوسولی پر بنسټ دوروړ گلوی او سمسمی داصولو سره سم او دژوند فلسفه او دهیواد دنن او سبا ورځی دنسلونو سرنوشت دافغانستان د۱۳۵۲ کال دچنګا ښی دشپږ ویشتمی نیټی دملی او مترقی انقلاب داساسی او اقتصادی هدفونو پربنا ټینګ کړو .

ددی حقایقو په درك کولو سره مو دغه ملی وثیقه د جمهوری دولت داساسی قانون په حیث دافغانستان دنجیبو خلکو دمادی او معنوی نیکمرغی هوسایني او پرمخ تګ دپاره دخپل ځان او راتلونکو نسلونو دلار ښودنی دپاره وضع کړه .

خداوند بزرگ (جل جلاله) وپیروی از اساسات دین مقدس اسلام، و بالاخره جهت تحقق این همه مقاصد وغایه ها ما مردم افغانستان با درك شرایط و ایجابات عصر تصمیم گرفته ایم تا زندگی ملی خود را بر اساس آزادی ، ترقی، حق، عدالت وصلح روی اصول برادری وبرابری استقرار بخشیم ، وفلسفه حیات وسرنوشت نسل‌های امروز وفردای کشور را مطابق به اهداف اساسی واقتصادی انقلاب ملی و مترقی ۲۶ سرطان سال ۱۳۵۲ افغانستان بنیان گذاری نمائیم .

با درك این حقایق، این وثیقه ملی را بحیث قانون اساسی دولت جمهوری جهت تامین سعادت، رفاه وارتقای مادی و معنوی مردم نجیب افغانستان برای خود و رهنمایی نسلهای آینده وضع نمودیم .

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


| | صفحه |
|---|---|
| لومړی فصل<br>اساسی هدفونه | ۱ |
| دوهم فصل<br>اقتصادی بنسټونه | ۳ |
| دریم فصل<br>دولت | ٤ |
| څلورم فصل<br>دخلکو حقونه او وجیبې | ٦ |
| پنځم فصل<br>ملی جرګه | ١٤ |
| شپږم فصل<br>لویه جرګه | ٢٠ |
| اووم فصل<br>جمهور رئیس | ٢٣ |
| اتم فصل<br>حکومت | ٢٩ |
| نهم فصل<br>قضاء | ٣٣ |
| لسم فصل<br>اضطرار | ٤١ |
| یولسم فصل<br>تعدیل | ٤٣ |
| دولسم فصل<br>انتقالی حکمونه | ٤٤ |
| دیارلسم فصل<br>عمومی احکام | ٤٨ |

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست

صفحه


| | |
|---|---|
| فصل اول | ١ |
| هدف های اساسی | |
| فصل دوم | ٣ |
| اساسات اقتصادی | |
| فصل سوم | ٤ |
| دولت | |
| فصل چارم | ٦ |
| حقوق ووجایب مردم | |
| فصل پنجم | ١٤ |
| ملی جرگه | |
| فصل ششم | ٢٠ |
| لویه جرگه | |
| فصل هفتم | ٢٣ |
| رئیس جمهور | |
| فصل هشتم | ٢٩ |
| حکومت | |
| فصل نهم | ٣٣ |
| قضاء | |
| فصل دهم | ٤١ |
| اضطرار | |
| فصل یازدهم | ٤٣ |
| تعدیل | |
| فصل دوازدهم | ٤٤ |
| احکام انتقالی | |
| فصل سیزدهم | ٤٨ |
| احکام عمومی | |

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

## لمړی فصل

## اساسي هدفونه

### لمړی ماده

دخپلواکی ، ملی حاکمیت اود خاوری دتمامیت څخه دفاع کول .

### دوهمه ماده

دقدرت اجراء کول دخلکو له خوا چه اکثریی بزگران ، کارگران ، منورین او ځوانان دی .

### دریمه ماده

دفکر او عمل ترمنځ دیو والی ټینګښت دخلکودپوره ونډی‌اخیستلو په تکل دهیواد دمادی او معنوی جوړښت او پراختیا دپاره .

### څلورمه ماده

دیوی داسی دیموکراسی تامین چی په اجتماعی عدالت او دخلکو په گټو ولاړه وی .

### پنځمه ماده

دآزادی او انسانی کرامت درناوی او دهر رنگه کړاو او توپیر دمنځه وړل .

### شپږمه ماده

دجمهوری نظام ورځ په ورځ زیاتیدونکی ټینګښت او پیاوړتوب .

### اوومه ماده

دافغانستان دخلکو داکثریت په گټه ددی اساسی قانون دارزښتو نو

## فصل اول

## هدف های اساسی

### ماده اول

دفاع از استقلال ، حاکمیت ملی وتمامیت ارضی .

### ماده دوم

اجرای قدرت توسط مردم که اکثریت آنرا دهقانان، کارگران ، منورین و جوانان تشکیل میدهند .

### ماده سوم

تحکیم اتحاد فکر و عمل بمنظور سهم گرفتن کامل مردم برای ساختمان و انکشا ف مادی ومعنوی کشور .

### ماده چارم

تامین دیمو کراسی متکی بر عدالت اجتماعی و منافع مردم .

### ماده پنجم

احترام به آزادی و کرامت‌انسانی واز بین بردن هرگونه تعذیب و تبعیض .

### ماده ششم

استقرار و استحکام روز افزو ن نظام جمهوری .

### ماده هفتم

ایجاد تحولات دوامدار ، عمیق و بنیادی اقتصادی و اجتماعی متکی بر

ketabton.com - The Digital Library



اوبنستهو نو سره سم دژورو، بنیادی او پرله پسی اقتصادی او اجتماعی اوبنتونونو منځ ته راوستل .

**اتمه ماده**

دهر ډول استثمار له مینځه وړل .

**نهمه ماده**

دکار دحق تضمینول .

**لسمه ماده**

دخلکو دخدمت دپاره په اجباری توګه دلمړنیو ښوونو تامین او تعمیم او دعلمی او فنی کادرونو دروزنی او بشپړتیا په منظور په وړیا ډول دثانوی عمومی، مسلکی او عالی زده کړو پراختیا اوپرمختیا.

**یوولسمه ماده**

دعامی روغتیا دښه والی اوساتنی دپاره دوقایوی او معالجوی طب پراختیا .

**دوولسمه ماده**

دملګرو ملتونو دمنشوردااساسونو او دبشر دحقوقو د جهانی اعلامیی درناوی او دعادلانه سولی ملاتړ .

په نتیجه کښی دیوی هوسا او پرمخ تللی ټولنی جوړول چه دورورۍ، سمسمی، مرستی او دانسانی کرامت دساتنی په بنسټ ولاړه وی .

اساسات و ارزشهای مندرج این قانون اساسی بمنظور تامین منافع اکثریت مردم افغانستان .

**ماده هشتم**

از بین بردن استثمار بهر نوع وشکلی که باشد .

**ماده نهم**

تضمین حق کار .

**ماده دهم**

تأمین وتعمیم تعلیمات ابتدایی اجباری ، توسعه و رشد تعلیمات ثانوی عمومی ، مسلکی و عالی به صورت مجانی بمنظور پرورش واکمال کادر های علمی و فنی جهت خدمت به مردم .

**ماده یازدهم**

بسط و توسعه طب وقایوی ومعالجوی بمنظور حفظ و بهبود صحت عامه .

**ماده دوازدهم**

احترام به اساسات منشور ملل متحد ، اعلامیه جهانی حقوق بشر و پشتیبانی از صلح عادلانه .

د رنهایت تشکیل یك جا معه مرفه و مترقی بر اساس برادری، برابری ، تعاون و حفظ کرامت انسانی .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

## دوهم فصل

## اقتصادي بنسټونه

### دیارلسمه ماده

منابع لکه کانونه ، ځنګلونه او انرژي، لوی صنایع، مخابرات، دهوايي او ځمکني ترانسپور تمهم تاسیسات ، بندرونه ، بیمې، بانکونه دخوراکي موادو دبرابرو لو مهم تاسیسات ، لرغوني او تاريخي آثار دقانون د حکمونو سره سم دملت شتمني ده او اداره يې په دو لت پورې اړه لري .

### څوارلسمه ماده

دزراعتي ملکیت لوړه اندازه دځمکو داصلاحاتو دقانون له . پلوه تثبیت او ټاکل کیږي .

### پنځلسمه ماده

ځانګړي ملکیتونه او تشبثا ت داستثمار دمنځه وړلو داصل په ملاتړ دقانون په وسیله تنظيميږي .

### شپاړسمه ماده

حکومت دلګښت او پید اینبت تعاوني شرکتو نه او کوپراتیفو نه دخلکو په ګډون او دخلکو داکثریت په ګټه دقانو ن دحکمو نو سره سم تشويقوي ، ملاتړ يې کوی او لار ښوونه ور ته کوی .

## فصل دوم

## اساسات اقتصادی

### ماده سیزدهم

منابع از قبیل معادن ، جنگلات و انرژی ، صنایع بزرگ، مخابرات ، تاسیسات مهم ترانسپورت هوا یی وزمینی، بنادر، بانك ها ، بیمه ها، تاسیسات مهم تهیه ارزاق، آثار باستانی و تاریخی ، مطابق به احکام قانون جزء دارائی ملت و اداره آن متعلق به دو لت است .

### ماده چار دهم

حدنهایی ملکیت زراعتی توسط قانون اصلاحات ارضی تعیین و تثبیت میگردد .

### ماده پانزدهم

ملکیت و تشبثات خصو صی متکی به اصل عدم استثمار توسط قانون تنظیم میشود .

### ماده شانزدهم

کوپراتیف ها وشر کت ها ی تعاونی تولید ومصرف با اشتراك مردم بمنظور تامین منافع اکثریت مردم مطابق باحکام قانون از طرف حکومت تشویق، حمایه و رهنما یی میشود .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

### اوولسمه ماده

دمنځنیو ، وړو او لاسي صنایعو په ساحه کې خانګړې تشبثو نه او پانګې اچول دقانون دحکمونوسره‌سم تشویق کیږي، ملاتړ یې کیږي او لارښوونه ورته کیږي .

### اتلسمه ماده

دهیواد سوداګري دلارښودل شوي سوداګري په اساس چه خلکو داکثریت په ګټو ولاړه ده دقانون‌دحکمونو سره سم‌تنظیمیږي.

### نولسمه ماده

مالیه داجتماعي عدالت په بنسټ دقانون د حکمونو سره سمه‌اخیستل کیږي .

## دریم فصل

## دولـــت

### شلمه ماده

افغانستان یوجمهوري، دیموکراتیك، خپلواك ،یو موټی او نه بیلیدونکی دولت دی .

### یو ویشتمه ماده

ملی حاکمیت په افغانستا ن کښی په خلکو پوری اړه لری .

دافغانستان ملت ټول هغه افراد

### ماده هفدهم

سرمایه گذاریها و تشبثات خصوصی درساحه صنایع متوسط ، کوچك و دستی مطابق به احکام قانون تشویق ، حمایه و رهنمایی میشود .

### ماده هجدهم

تجارت کشور به اساس تجارت رهبری شده بروی منافع اکثریت مردم مطابق باحکام قانو ن تنظیم میشود .

### ماده نزدهم

مالیات بر اساس عدالت اجتماعی مطابق به احکام قانون اخذ میگردد.

## فصل سوم

## دولـــت

### ماده بیستم

افغانستان دولت جمهوری ، دیمو کراتیک ، مستقل، واحد وغیر قابل تجزیه میباشد .

### ماده بیست ویکم

حاکمیت ملی در افغانستان‌بمردم تعلق دارد .

ملت افغانستان عبارتست از تمام افرادیکه تابعیت دولت

ketabton.com - The Digital Library



دی چه دقانون له حکمونو سره سم دافغانستان ددولت تابعیت لری .

دافغانستان دملت دافرادو په هر یو فرد باندی دافغان د کلمی اطلاق کیږی .

**دوه ویشتمه ماده**

دافغانستان دین داسلام مقدس دین دی .

دملت هغه کسان چه مسلمانان نه دی په هغو حدو دوکښی دننه چه دآدابو او عامی هوساینی په هکله یی قوانین ټاکی آزاد دی چه خپل مذهبی مراسم په ځای کړی .

**دریویشتمه ماده**

دافغانستان دژبو له جملی څخه پښتو او دری رسمی ژبی دی .

**څلیر ویشتمه ماده**

دافغانستان دبیرغ رنگ تور، سور او زرغون دی . چه دارنگونه په افقی ډول په ټاکل شوو اندازو له پورته مخ په ښکته واقع دی او دکیڼی خوا په پاسنی برخه کی یی ددولت ملی نښان لگیدلی دی . دبیرغ او ملی نښان تعریف او اندازه دقانون له خوا ښودل کیږی .

**پنځمه ویشتمه ماده**

دافغانستان د جمهوری دولت وسله والی قواوی چه دملی انقلاب هدفونو ته و فاداری او پخپلو ملی

افغانستان را مطابق باحکام قانون دارا باشند .

بر هر فرد از افراد ملت افغانستان کلمه افغان اطلاق میشود .

**ماده بیست و دوم**

دین افغانستان دین مقدس اسلام است .

آن افراد ملت که پیرو دین اسلام نیستند در اجرای مراسم مذهبی خود در داخل حدو دیکه قوانین مربوط به آداب و آسایش عامه تعیین میکند آزاد میباشند .

**ماده بیست وسوم**

از جمله زبان های افغانستان پښتو و دری زبان های رسمی میباشد.

**ماده بیست وچارم**

بیرق افغانستان دارای رنگ های سیاه ، سرخ وسبز میباشد که بصورت افقی به اندازه های معین ازبالا به پائین واقع شده ودرقسمت چپ بالائی آن نشان ملی دولت نصب میباشد .

تعریف و اندازه بیرق و نشان ملی توسط قانون تنظیم میگردد .

**ماده بیست وپنجم**

قوای مسلح دولت جمهوری افغانستان که بهدف های انقلاب ملی وفادار وبه عنعنات ملی

عنعناتو ټینګی ولاړی دی دخلکـــو دخدمت له پاره دحکومت داوامرو تابع دی .

دافغانستان دقلمرو نه د فـــاع دوسله والو قواوو په غاړه ده . او دوسله والو قواوو دعالی شـــوری دلاری په ملی فعالیتونو کښی برخه اخلی .

**شپږ ویشتمه ماده**

دافغانستان اداره دقانون دحکمونو سره سم دمرکزیت په اصل ولاړه ده .

دافغانستان مرکز د کابل ښاردی.

## څلورم فصل

## دخلکو حقونه او وجیبی

**اوه ویشتمه ماده**

دافغانستان ټول خلك ښځی وی که نربی له تبعیض اوامتیاز دقانون په وړاندی یو شان حقونه او وجیبی اری .

**اته ویشتمه ماده**

آزادی دانسان طبیعی حـق دی. پرته له هغو حالاتو چه دنوروآزادی، شرافت یا عمومی ښیګڼو امنیت او ملی مصلحتونو ته ډکه یا زیــا ن ورسوی . داحق دقانون له خــوا ښودل کیږی .

**نهه ویشتمه ماده**

هرافغان چه دعمر اتلس کاله یی

خود پابند می باشد درخدمت مردم تحت اوامر حکومت قرار دارد .

قوای مسلح دفاع قلمروافغانستان را بعهده داشته از طریق شـــورای عالی قوای مسلح در فعالیت ها ی ملی سهم میگیرد .

**ماده بیست وششم**

اداره افغا نستان بر اصـــل مرکزیت مطابق باحکام قانـــو ن استوار است .

مرکز افغانستان شهرکابل میباشد.

## فصل چارم

## حقوق ووجایب مردم

**ماده بیست وهفتم**

تمام مردم افغانستان اعم از زن ومرد بدون تبعیض وامتیاز در برابر قانون حقوق ووجایب مساوی دارند.

**ماده بیست وهشتم**

آزادی حق طبیعی انسان اســت مگر اینکه به آزادی و شرافـــت دیگران یا به منفعت وامنیت عامه ومصالح ملی صدمه یالطمه واردکند. این حق توسط قانون تنظیم میگردد.

**ماده بیست ونهم**

هر افغان که سن هژده سالگـی

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

پوره کړی وی دقانون دحکمونـــو سره سم درای ورکو او حق لری.

## دیرشمه ماده

دذمی برائت اصلی حالـت دی . ترڅو پوری چه تورن دواکمنــــی محکمی له خوا په قطعی حکم سره په جزا محکوم نشی بیگناه گڼل کیږی.

هیڅ عمل بی دقانو ن له حکمــه جرم نه گڼل کیږی. هیڅ‌چاته جــزا نشی ورکول کیدی مگر دواکــمنی محکمی دحکمه سره سم .

هیڅ‌چا ته جزانشی ور کول کیدی مگر دیو داسی قانون دحکمه سره‌سم چه ددغه تهمتی کار له کولو نــه پرومبی نافذ شوی وی .

هیڅوك تعقیب کیدلی ، نیــول کیدلی یا توقیف کید لی نه شـــی مگر دقانون دحکمونو سره سم .

## یو دیرشمه ماده

جرم دهر چا خپل ځانی شی‌دی. دتورن تعقیبول، نیول، توقیفول او سزاورکول بل‌هیڅ‌چاته نه ورغځیږی.

کړول او له انسانی کرامت نــه مخالفه سزا ټاکل ناروا دی .

هر څوك حق لری چه دهغه تور دلری کولو په غرض چه دقانو ن له مخی پری لگول شوی وی دځـــان ددفاع دپاره وکیل ونیسی .

را تکمیل کند مطابق باحکام قانو ن حق رای دادن را دارد .

## ماده سی ام

برائت ذمه حالت اصلی است . متهم تاوقتیکه به حکـم قطعــی محکمهٔ باصلاحیت محکوم علیه قرار نگیرد بی گناه شناخته میشود .

هیچ عملی را نمیتوا ن جرم‌شمرد مگر بمو جب قانون .

هیچ کس را نمیتوان مجا زا ت نمود مگر بر طبق حکم محکمـــــه باصلاحیت .

هیچ کس را نمیتوان مـجا زات نمود مگر مطابق به احکام قانونیکه قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ گردیده باشد .

هیچ کس را نمیتوان تعقیـــب گرفتار یا توقیف نمود مگر مطابـق باحکام قانون .

## ماده سی ویکم

جرم یك امر شخصی اســـت . تعقیب ، گرفتاری یا توقیف متهم وتطبیق جزاء بر او به شخص‌دیگری سرایت نمیکند .

تعذیب و تعیین جزائیکه مخالف کرامت انسانی باشد جواز ندارد .

هر شخص حق دارد برای دفـع اتهامیکه قانوناً علیه او واردگردیده وکیل مدافع تعیین کند .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

## دوه دیرشمه ماده

دچا پوره وړی کیدل دپور وړی دآزادی دسلبیدو یا کمید و سبب کیدای نه شی .

دپور ویستلو لاری، چاری دقانون له خوا ښودلی کیږی .

## دری دیرشمه ماده

هر افغان حق لری چه دخپل هیواد سیمی هر ځای ته و لاړ شی او هلته استوګنه غوره کړی پرته له هغو ځایو څخه چه قانون منع کړی وی .

همدارنګه هر افغان حق لری چه دقانون دحکمو نوسره سم دافغانستان نه دباندی سفر وکړی او بیرته افغانستان ته راشی .

## څلور دیرشمه ماده

هیڅ افغان په افغانستان کی دننه اویا دافغانستان نه دباندی په شړلو محکو میدلی نه شی .

هیڅوك په یوه ځای کښی له میشته کیدلو او یادهغه ځای نه بل ځای ته لیږدیدلو څخه منع کیدای نشی مګر په داسی حالاتو کښی چه قانون دامنیت اوعامه ګټو دتأمین په منظور اجازه ورکړی وی .

هیڅ افغان دیو جرم په تور بهرنی دولت ته سپارل کیدای نشی.

## ماده سی ودوم

مدیون بودن شخص در برابر شخص دیگر موجب سلب یا محدود شدن آزادی وی شده نمیتواند .

طرز ووسایل تحصیل دین توسط قانون تنظیم میگردد .

## ماده سی وسوم

هر افغان حق دارد در هر نقطه از ساحه کشور خود سفر نماید ومسکن اختیار کند مگردر مناطقیکه قانون ممنوع قرار داده است.

همچنین هر افغان حق داردمطابق به احکام قانون بخارج سفر نماید وبوطن عودت کند .

## ماده سی وچارم

هیچ افغان به تبعید در داخل ویا خارج افغانستان محکوم شده نمیتواند .

هیچ شخص به منع اقامت درمحل معین یا انتقال از آن محکوم شده نمیتواند مگر در حالاتیکه قانون بمنظور تأمین امنیت و منافع عامه اجازه داده باشد .

هیچ افغان بعلت اتهام جرم به دولت خارجی سپرده نمیشود .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

## پنځه دیرشمه ماده

دهرچا کور دبلوسسی نه پــه امن دی هیڅوك حتی دو لــت هــم داوسیدونکی داجازی یادیوی واکمنی محکمی له حکمه پرته اوبی دهغــو حالاتو اولارو چارو چه په قانون‌کښی ځرګندی شودل شویدی دچا کورته ننوتلی او هغه لټولی نشی .

دمشهود جرم په وخت کی مسؤل مامور دیو چا کور ته بی دهغـــه داجازی یا دمحکمی دمخکینی اجازی څخه په خپل مسؤلیت ننوتلی شی‌او هغه لټولی شی، خو دغه مامور پدی مکلف دی چه دننوتلو ، او لټولونه وروسته دقانون دخوا په ښودل‌شوی مودی کی دننه دمحکمی حکم ترلاسه کړی .

## ماده سی وپنجم

مسکن شخص از تعرض مصئون است . هیچ شخص بشمول دو لت نمیتواند بدون اجازه ساکن یا حکم محکمهٔ باصلاحیت و بغیر از حالات وطرزیکه در قانون تصریح شده به مسکن کسی داخل شود یا آنـــرا تفتیش کند .

در مورد جرم مشهود مامــور مسئول میتواند بــه مسکن شخص بدون اجازه او یا اجازه قبلی‌محکمه به مسئولیت خود داخل شود و یـا آنرا تفتیش کند .

مامور مکلف است بعد از داخل شدن یا اجرای تفتیش در خـلا ل مدتیکه قانون تعیین میکند حکــم محکمه را حاصل نماید .

## شپږ دیرشمه ماده

ملکیت دبلو سی نه په امن د ی دهیچا ملکیت دقانون د حکم اودیوی واکمنی محکمــی د فیصلی نه پرته مصا دره کیدلای نشی دخصو صی ملکیت استملاك یوازی دعمومـــی ښیګڼو دپاره دعادلانه عوض‌په بدل کښی دقانون د حکمونو سره سم جواز لری .

هیڅوك دملکیت له لاس ته راوړلو او تصرف څخه منع کیدای نه شی مګر دقانون په پولو کی .

## ماده سی وششم

ملکیت از تعرض مصئون است .

ملکیت هیچ شخص بدو ن حکم قانون وفیصله محکمهٔ با صـلا حیت مصادره نمیشود .

استملاك ملکیت خصو صی تنها به مقصد تامین منافع عامه در بدل تعویض عادلانه بمو جب قانون مجاز میباشد .

هیچ شخص از کسب ملکیت و تصرف در آن منع نمیشود مگـــردر حدود قانون .

ketabton.com - The Digital Library



دملکیت داستعمال لاری چاری دعامو ښیگړو دپاره دقانون دپلوه تنظیم او ښودل کیږی.

**اوه دیرشمه ماده**

دهرچا دمخابری آزادی اوپټوالی په لیك سره وی که په تیلفون که په تیلگراف او یا په کومه بله وسیله دبلوسی نه په امن دی .

دولت دچا دمخابری دپلټنی حق نلری مگر دقانون دحکمونو سره سم. په سملاسی حالاتو کښی چه قانون ښودلی دی مسئول مامور بی لدی چه لومړی له محکمی څخه اجازه واخلی په خپل مسئولیت سره کولی شی چه مخابری وپلټی .

دغه مامور پدی مکلف دی چه دپلټنی څخه وروسته په هغه موده کښی چه قانون ښودلی ده دمحکمی حکم تر لاسه کړی .

**اته دیرشمه ماده**

دفکر او بیان آزادی دبلو سی نه په امن ده .

هر افغان حق لری چه دقانون دحکمونو سره سم په وینا، لیکنه ، تصویر او یا داسی نورو وسیلوسره خپل فکر څرگند کړی .

د چاپخانو دتاسیس او دمطبوعاتو دخپرو لو اجازه او امتیاز

طرز استعمال ملکیت بمنظور تامین منافع عامه توسط قانون تنظیم ورهنمائی میشود .

**ماده سی وهفتم**

آزادی و محرومیت مخابرات اشخاص چه بصورت مکتوب و چه بوسیله تیلفون و تلگراف و یا وسایل دیگر باشد از تعرض مصئون است .

دولت حق تفتیش مخابرات اشخاص را ندارد مگر بموجب حکم قانون .

در حالات عاجل که در قانون تعریف میگردد مامور مسئول میتواند بدون اجازه قبلی محکمه به مسؤلیت خود به تفتیش مخابرات اقدام کند.

مامور مکلف است بعد از اجرای تفتیش د رخلال مدتیکه قانون تعیین میکند حکم محکمه راحاصل نماید.

**ماده سی وهشتم**

آزادی فکر و بیان از تعرض مصئون است .

هر افغان حق دارد فکر خود را بوسیله گفتار، نوشته، تصویر ویا امثال آن مطابق به احکام قانون اظهار کند .

اجازه وامتیاز تاسیس مطابع و نشر مطبوعات تنها بنه اتبناع

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

دقانون دحکمونو سره سم يوازی دافغانستان اتباعو ته ور کول کيږی.

دلويو چاپخانو ، درا ديـــو او تلويزيون ، دعامو خپرونکو کار ـ خيو تاسيس او چلول يوازی پـــه دولت پوری اړه لری .

**نهه ديرشمه ماده**

دافغانستان اتباع حق لری چـــه دروا او سوله ناکو مقصدونو دپوره کولو دپاره دقانون دحکمونوسره‌سم بی وسلی تولنه وکاندی .

**څلويښتمه ماده**

دافغانستان دخلکو دسياسـی روزنـی او اجتماعـــی غوښتنـو د څرګندولو په منظور تر هغه وخته چه دا آرزو ترسره کيږی اوطبيعی ودی ته رسيږی په هيواد کی دملی انقلاب دګوند په لار ښودنه کوم چه دافغانستان دخلکو د ۱۳۵۲ کال دچنګاښ دشپږ ويشتمی نيټی‌دمترقی او ولسی انقلاب بنسټ ايښودونکی او مخکښی‌ګوند دی يوازی يوګونديز سيستم ټينګ وی .

**يو څلويښتمه ماده**

کار دهر افغان چه دکولو وس‌يی ولری حق، شرف او دغاړی فرض دی .

دکار دتنظيم دپاره چه کوم‌قوانين جوړيږی دهغوی لوی هدف يـــوی

افغانستان مطابق باحکام‌قانون داده ميشود .

تاسيس مطابع بزرگ و تاسيس وتدوير دستگاه عامه فرستننده راديو وتلويزيون مختص بدولت است .

**ماده سی ونهم**

اتباع افغانستان حق دارند برای تامين مقاصد جايز وصلح آميزبدون حمل سلاح مطابق باحکام قانـــون اجتماع نمايند .

**ماده چهلم**

برای انعکاس خواسته هـــــای اجتماعی و تربيت سياسی مردم افغانستان تازمـانيکه ايـــن آرزو بر آورده گردد و به رشد طبيعـــی خود برسد سيستم يك حزبی در کشور بر هبری حزب انقلاب ملی که بانی وپيشاهنگ انقلاب مردمی و مترقی ۲۶ سرطان سال ۱۳۵۲ مردم افغانستان است بر قرار خواهدبود.

**ماده چهل ويکم**

کار حق ، شرف و فريضه هـر افغانيست که قدرت اجرای آنـــرا داشته باشد .

هدف عمده قوانينيکه برای‌تنظيم کار وضع ميگردد رسيدن بمرحله ـ

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

داسی مرحلی ته رسیدل دی چه په هغی کی دټولو زیار کښانو ، کروندگرو، کاریگرو، او اصنافو حقونه او ښیگڼی و ساتلی شی دکار مناسب حالات را پیدا شی او دکاریگرو او کار فرمایانو تر مینځ روابط پــــه عادلانه اوپرمختللی ډول تنظیم شی.

دکسب او کار غوره کول په هغو شرایطو کښې دننه چه قانون ټاکلی دی آزاد دی .

**دوه څلویښتمه ماده**

دافغانستان اتباع داهلیت له مخی اودقانون دحکمونو سره سم د دولت دخدمت دپاره منل کیږی .

**دری څلویښتمه ماده**

بیگار له ددولت لپاره هم روا نه دی نازوا دی .

دبیگار بندیز دهغوقوانینو دعملی کولو په لاره کښې چه دعمومـــــی ښیگڼو په نیت دیو ټولنیز کــــار دسمښت دپاره جوړیږی کوم خنډ نه راپورته کوی .

**څلور څلویښتمه ماده**

هر افغان مکلف دی چه دو لت ته مالیه او محصول ورکړی .

هیڅ ډاز مالیه او محصول بــــی دقانون له حکمه نشی ټړل کیدای .

دمالیی او محصول اندازه اودهغو دور کولو لاری چاری یی داجتما عی

ایست که درآن حقوق و منافع تمام زحمتکشان ، دهقانان، کار گران و اصناف حمایت شود ، شرایط مساعد کار فراهم گردد، روابط بین کارگر وکار فرما بصورت عادلانه و مترقی تنظیم گردد .

انتخاب شغل و حرفه در داخل شرایطی که قانون تعیین مینمایـد آزاد میباشد .

**ماده چهل و دوم**

اتباع افغانستان به اساس اهلیت وبموجب احکام قانون بخدمت دولت پذیرفته میشوند .

**ماده چهل وسوم**

تحمیل کار اجبار ی اگر چــــه برای دو لت باشد جواز ندارد .

تحریم کار اجباری مانع تطبیــق قوانینی نمیشود که بمنظور تنظیم فعالیت دسته جمعی برای تامین منافع عامه وضع میگردد .

**ماده چهل وچارم**

هر افغان مکلف است بدو لــــت مالیه ومحصول تادیه کند .

هیچ محصول ومالیه بدون حکم قانون وضع نمیشود .

اندازه مالیه و محصول وطــرز

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

عدالت سره سم دقانون له خـوا ښودلی کیږی .
دا حکم په خارجی اشخاصو باندی هم چلیږی .

**پنځه څلویښتمه ماده**

دهیواد ځخه دفاع دافغانستـان دټولو اتباعو سپیڅلی وظیفه ده .
دافغانستان ټول اتباع د قانـون دحکمونو سره سم عسکری خدمت په کولو مکلف دی .

**شپږ څلویښتمه ماده**

داساسی قانون له حکمونـو سره سم چلیدل، د جمهوری نظام او د۱۳۵۲ کال د چنګاښ د۲۶ نیټی دانقلاب دهدفونو سره وفا داری ، دجمهور رئیس‌در ناوی‌کول ،قوانینو ته غاړه ایښودل عمومی نظم او امن ته پاملرنه ، دهیواددښیګړو ساتل او په ملی ژوند کښی ګډون کـول دافغانستان دټولو خلکو وظیفه ده .

**اووه څلویښتمه ماده**

هیڅوك نه شی کولی چـه ددی اساسی قانون دمندرج حقونو او آزادیو څخه په استفادی سره ملی خپلواکی ، دخاوری تمامیت ، ملی وحدت او هغو غوښتنو ته چه‌دخلکو داکثریت په ښیګړو ولاړې وی او یا د ۱۳۵۲ کال دچنګاښ د۲۶ نیټـی دانقلاب نـورو هدفونو ته ړکه او زیان ورسوی .

تادیه آن بارعایت عدالت اجتماعـی توسط قانون تعیین میگردد .
این حکم در مورداشخاص خارجی نیز تطبیق میشود .

**ماده چهل وپنجم**

دفاع از وطن وظیفه مقدس تمام اتباع افغانستان است .
کافه اتباع افغانستان به اجرای خدمت زیر بیرق مطابق باحکـام قانون مکلف میباشند .

**ماده چهل وششم**

پیروی از احکام قانون اساسی ، وفا داری به اهـداف انقـلاب ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ ونظام جمهـوری، احترام به رئیس جمهور ، اطاعت‌به قوانین ، رعایت نظم وامن عامه ، صیانت منافع وطن و اشتراك در حیات ملی وظیفه تمام‌مردم‌افغانستان است .

**ماده چهل و هفتم**

هیچ کس نمیتواند با استفاده از حقوق و آزادی های مندرج ایـن قانون اساسی به استقلال ملـی، تمامیت ارضی، و حدت ملی و بـه خواسته های منافع اکثریت مـردم ویا به هدف های انقلاب۲۶ سرطان ۱۳۵۲ صدمه وارد کند .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

## پنځم فصل

## ملی جرگه

### اته څلویښتمه ماده

ملی جرگه دافغانستان دخلکو دارادې څرگندو یه ده او دټول ملت څخه نمایندگی کوی.

### نهه څلویښتمه ماده

دملی جرگې غړی چه پنځوس په سلو کې یې کروند گر او کاریگر تشکیلوی دگوند له پلوه پیشنهاد او دآزادو ، عامو پټو او سماسمو انتخاباتو دلاری دقانون د حکمو نو سره سم دیوی څلور کلنی مودی دپاره دخلکو له خوا غوره کیږی .

ددی مقصد دپاره افغانستان په انتخابی ونډونو ویشل کیږی .

دونډونو شمیر او سیمه دقانو ن له مخه ټاکل کیږی .

### پنځوسمه ماده

دملی جرگې دو کیلا نو دغوره کیدو لاری‌چار ی،شرطونه ،او ددوی وظیفی به دقانون‌دحکمونو سره‌سمی تنظیمیږی .

دیو وکیل دانتخاب‌په قانونی‌والی باندی داعتراض او دده دغړیتوب دوثیقی کره‌کتنه دملی‌جرگې دداخلی وظایفو داصولو سره سم تر اجراء لاندی نیوله کیږی .

## فصل پنجم

## ملی جرگه

### ماده چهل وهشتم

ملی جرگه افغانستان مظهر اراده مردم آنست واز قاطبه ملت‌نمایندگی میکند .

### ماده چهل ونهم

اعضای ملی جرگه که پنجاه فیصد آنرا دهقانان و کار گران تشکیل میدهد از جانب حزب پیشنهاد واز طریق انتخا بات آزاد، عمومی، سری ومستقیم‌مطابق‌باحکام قانون برای مدت چهار سال ازطرف مردم انتخاب میشوند .

باین منظور افغانستان به حوزه های انتخا باتی تقسیم میگردد .

تعداد و ساحه حوزه ها توسط قانون تعیین میشود .

### ماده پنجاهم

طرز وشرایط انتخاب وکلای ملی جرگه ووظایف شان مطابق باحکام قانون تنظیم میگردد .

طرز تدقیق و ثایق و رسید گی به اعتراض بر قانونی بودن انتخاب یك وکیل مطابق به اصول و ظایف داخلی ملی جرگه صورت میگیرد .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

### يو پنځوسمه ماده

دوکيل شخه دو کالت دامتياز سلبول دملي جرگي دغړو د ري برخو شخه ددوو برخو په موافقي سره کيدی شي .

### دوه پنځوسمه ماده

دانتخاب کوو نکو شر طونه دانتخاباتو پهقانون کښي ښود ل کيږي

هغه څوك چه دملي‌جرگي‌دغړيتوب دپاره غوره کيږي په کا ردی چه دانتخاب کوو نکو په شرطو نو سربيره دغه صفتونه هم ولري :

۱ـ بايد دملي جرگي په غړيتوب باندي دغوره کيدونه لمړي‌تي‌لږتر لږه‌لس‌کاله پخوا دافغانستان ددولت تابعيت حاصل کړی وی .

۲ـ دمحکمي له خوا دسيا سي حقونو شخه په محرو مي محکو م شوی نه وی .

۳ـ دانتخاب‌په وخت‌کښي يی‌دخپل عمر پنځه ويشتم کال پوره کړی‌وی.

### دری پنځوسمه ماده

دملي جرگي هريو غړی حق لری چه دجرگي دننه دهغه موضوع په باب چه خبری پری رواني وی خپله نظريه دداخلي وظايفو په اصولو، برابره څرگنده کړی .

### ماده پنجاه ويکم

سلب امتياز و کالت از وکيل تنها به موافقه دو ثلث اعضای ملي جرگه صورت ميگيرد .

### ماده پنجاه ودوم

شرايط انتخاب کنندگان درقانون انتخا بات تعيين ميگردد .

شخصيکه به عضويت ملي جرگه انتخاب ميشود بايد علاوه بر تکميل شرايط انتخاب کنندگان وا جد اوصاف آتي باشد:

۱ـ اقلاده‌سال‌قبل ازتاريخ‌انتخاب تابعيت دو لت افغانستان را کسب کرده باشد .

۲ـ از طرف محکمه به حر مان از حقوق سياسي‌محکوم نشده‌باشد.

۳ـ سن بيست وپنج سالگي را د رموقع انتخاب تکميل کرده باشد.

### ماده پنجاه وسوم

هر عضو ملي جرگه حق دارد در داخل جرگه در موضوع موردمباحثه نظريه خود را مطابق به اصول وظايف داخلي اظهار نمايد .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

## څلور پنځوسمه ماده

دملی جرگی هیڅ یو غړی دهغی نظریی له کبله چه دخپلی وظیفی دپر ځای کولو په وخت کی یی ښکاره کوی دعدلی تعقیب لاندی نه راځی.

که چیری دملی جرگی په یو غړی باندی تور پوری شی نو مسئول مامور ددغی پیښی خبر ملی جرگی ته ور کوی او پس له هغه چه دجرگی غړی په اکثریت سره اجازه ورکاندی تورن دعدلی تعقیب لاندی راځی.

دڅرگند جرم په باب مسؤل مامور کولی شی چه تورن بی دجرگی داجازی نه دعدلی تعقیب لاندی راوړی او ویی نیسی.

که چیری عدلی تعقیب دقانون له مخی دتوقیف غوښتنه کوله نو مسؤل مامور مکلف دی چه سملاسی جرگی ته خبر ورکړی.

که چیری تور په داسی وخت کی پیښ شوی وی چه جرگه تعطیل وی نو دتوقیف خبر دجرگی اداری هیأت ته ور کول کیږی.

اداری هیأت مکلف دی چه ملی جرگه دراتلونکی اجلاس په لمړی غونډه کښی دموضوع څخه خبر کړی.

## پنځه پنځوسمه ماده

حکومت کولی شی چه دملی جرگی په غونډو کی گډون وکړی.

## ماده پنجاه وچارم

هیچ عضو ملی جرگه بعلت رأی یانظریه‌ایکه هنگام اجرای وظیفه ابراز میدارد مورد تعقیب عدلی قرار نمیگیرد.

هرگاه یك عضو ملی‌جرگه بجرمی متهم شود مامور مسؤل از موضوع به ملی جرگه اطلاع میدهد و بعد ازآنکه جرگه مذکور باکثریت آراء اجازه بدهد متهم تحت تعقیب عدلی قرار میگیرد.

در موارد جرم مشهود مامور مسئول میتواند متهم را بدون اجازه جرگه تحت تعقیب عدلی قرار دهد وگرفتار نماید.

هر گاه تعقیب عدلی قانوناً توقیف را ایجاب کند مامور مسؤل مکلف است موضوع را بلا فاصله به اطلاع جرگه ودر هنگام تعطیل به اطلاع هیأت اداری جرگه برساند.

هیأت اداری مکلف است موضوع را به اطلاع اولین جلسه ملی جرگه که بعد از تعطیل صورت میگیرد برساند.

## ماده پنجاه وپنجم

حکومت میتواند در جلسات ملی جرگه اشتراك ورزد.

# رسمي جريده

ملي جرگه کولی شي چه دحکومت غړي خپلې غونډې ته وغواړي او د هغوی نه څرگندتیا وغواړي .

په غونډو کې به دملي جرگې مباحثې ښکاره وي مگر کله چه جمهور رئیس دغونډې پټوالی اعلام کړي همدارنگه کله چه دملي جرگې مشر او یا دحکومت هر غړی او یالږ ترلږه دملي جرگې لس تنه غړي دا غوښتنه وکړي چه جرگه دې پټه وشي او جرگه دا غوښتنه ومني .

هیڅوك په سر زوري سره دملي جرگې دیره ځای ته ننو تلای نشي او که څوك ددي حکم نه مخالفت وکړي دقانون دحکمونو له مخه به سزا ورکول کیږي .

**شپږ پنځوسمه ماده**

بې له هغو حالاتو چه حکم یې پدې اساسي قانون کې په صراحت ښودل شوی دی دملي جرگې فیصله دحاضرو غړو درایو په اکثریت کیږي .

**اوه پنځوسمه ماده**

ملي جرگه په هر کال کې څلور میاشتې پر له پسې عادي غونډه چه دلیندې په اوله نیټه پیل کیږي دایروي .

**اته پنځوسمه ماده**

ملي جرگه دتقنیني دورې په اول وخت کې دخپلو غړو له منځه یوکس دمشر په توگه غوره کوي .

جرگه می تواند حضور اعضا ی حکومت را درجلسه مطالبه وازآنها استیضاح نماید .

مباحثات جلسات ملی جرگه علنی میباشد مگر اینکه رئیس جمهور سری بودن جلسه را اعلام بدارد .

همچنان رئیس ملی جرگه ، هر عضو حکومت و یا اقلا ده نفر از اعضای ملی جرگه می توانند سری بودن آنرا درخواست نمایندوجرگه این درخواست را بپذیرد .

هیچ کس نمی تواند عنفاً به مقر ملی جرگه داخل شود ، متخلفین مطابق باحکام قانون‌مجازات‌میشوند.

**ماده پنجاه وششم**

جز در مواردیکه حکم آن صریحاً در این قانون اساسی ذکر گردیده تصمیم ملی جرگه باکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ میگردد .

**ماده پنجاه وهفتم**

ملی جرگه در هر سال یك‌اجلاس عادی برای مدت چهار ماه مسلسل که بتاریخ اول قوس آغاز میشود دایر میکند .

**ماده پنجاه و هشتم**

ملی جرگه در آغاز دوره تقنینیه ازبین اعضای خود یکنفر رابحیث رئیس انتخاب میکند .

# رسمی جریده

جرگه دخپلو غړو له منځه دوه تنه داومړی نائب او دوهم نائب په حیث اودوه تنه نور دمنشی اودمنشی دنائب په حیث دکلنی غونډی په اول سرکی دیو کال دپاره غوره کوی .

دغه پورتنی کسان ، دجرگی اداری هیأت تشکیلوی او په اعظمی ډول دغونډی دپیل کیدو نه وروسته دپنځلس ورځو په موده کی غوره کیږی .

**نهه پنځوسمه ماده**

ملی جرگه دبحث لاندی موضوعاتو باندی دکره او پراخی کتنی دپاره دداخلی وظیفو داصولو دحکمو نو سره سمی جرگه گی جوړوی .

**شپیتمه ماده**

ملی جرگه دخپلو داخلی وظایفو اصول جوړوی .

**یو شپیتمه ماده**

دملی جرگی دغړو دپاره دقانون دحکم سره سم مناسب معاش ټاکل کیږی .

**دوه شپیتمه ماده**

ملی جرگه دافغانستان د حیاتی چارو دسمون دپاره ددی اساسی قانون په حکمونو برابر دقوانینو په عغږ مسودو باندی چه دحکومت او یا قضائیه قوی له خوا ورته پیشنهاد شوی وی وروسته دمطالعی اوغور نه لازم تصمیم نیسی .

جرگه از بین اعضای خود دونفر رابحیث نایب اول و دوم رئیس و دونفر دیگر را بحیث منشی و نایب منشی در آغازاجلاس سالانه برای مدت یك سال انتخاب میکند .

اشخاص فوق هیأت اداری ملی جرگه را تشکیل میدهند ودر ظرف مدت اعظمی پانزده روز از آغاز اجلاس باید انتخاب گردند .

**ماده پنجاه ونهم**

ملی جرگه برای مطالعه دقیق و منصل مو ضوعات موزد بحث برطبق احکام اصول وظایف داخلی، انجمن ها تعیین میکند .

**ماده شصتم**

ملی جرگه اصول وظایف داخلی خود را وضع مینماید .

**ماده شصت ویکم**

برای اعضای ملی جرگه معا ش مناسب مطابق باحکام قانون تعیین میگردد .

**ماده شصت و دوم**

ملی جرگه برای تنظیم امورحیاتی افغانستان مطابق باحکا م این قانون اساسی بر مسوده قوانینی که از طرف حکومت وقوه قضائیه پیشنهاد میگردد بعد از مطالعه وغور تصمیم لازم اتخاذ مینماید .



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

په بودجې باندې تصمیم نیول ، دبین الدول معاهدو تصدیقول، خارج ته دافغانستان د جمهوري دولت دوسله والو قوا ؤ دټولګو لیږل دملي جرګې په واك کښې دي .

دملي جرګې دتعطیل یا انحلال په وخت کښې حکومت کولی شي دعاجلو چارو دسمون دپاره تقنیني فرمانونه تسوید او ترتیب کړي، دافرمانونه د جمهور رئیس دښکللو او اعلا مولو څخه وروسته نافذګڼل کیږي .

دغه فرمانونه دملي جرګې دلومړنی غونډې له نیټې نه تر دیرشو ورځو پورې ملي جرګې ته دتصمیم نیولو دپاره وړاندې کیږي .

### دری شپیتمه ماده

قانون هغې مصوبې ته وایي چه ملي جرګې منلې اوجمهور رئیس ښکللې وي .

### څلور شپیتمه ماده

هیڅ قانون نشي کولی چه داسلام دسپیڅلي دین اساسونو ، جمهوري نظام او نورو هغو ارزښتونو څخه مناقض وي چه پدې اساسي قانون کښې راغلي دي .

اتخاذ تصمیم بر بودجه ، تصدیق معاهدات بین‌الدول ، فرستادن قطعات قوای مسلح دولت جمهوری افغانستان به خارج از صلاحیت های ملی جرگه میباشد .

در هنگام تعطیل یا انحلال ملی جرگه حکومت میتواند برای تنظیم امور عاجل فرامین تقنینی تسوید وترتیب کند ، این فرامین بعد از توشیح واعلام رئیس جمهور نافذ میگردد .

این فرامین تقنینی جهت اتخاذ تصمیم به ملی جرگه درخلال مدت سی روز از تاریخ انعقاد اولین جلسه آن ارائه می شود .

### ماده شصت وسوم

قانون عبارتست از مصوبه ملی جرگه که به توشیح رئیس جمهور رسیده باشد .

### ماده شصت وچارم

هیچ قانون نمیتواند مناقض اساسات دین مقدس اسلام ، نظام جمهوری و دیگر ارزش های مندرج این قانون اساسی باشد .

ketabton.com - The Digital Library



## شپږم فصل

## لو یه جرگه

### پنځه شپیتمه ماده

په افغانستان کښی لویه جرگه دافغانستان دخلکو دستر قدرت ، واك ، او ارادی ښکارندو یه ده .

لویه جر گه ددی لاندی کسانو څخه جوړه ده :

– دملیجرگی غړی .

– دگوند دمرکزی شوزی غړی.

– دحکومت اووسله والو قواو او دعالی شوری غړی .

– دستری محکمی غړی .

– دهر ولایت دپنځوتنوڅخه تر اتوتنو پوری نمایندگان .

– دیرش تنه غړی چه دفرمان په وسیله د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږی .

### شپږ شپیتمه ماده

لویه جرگه ددی اساسی قانو ن دحکمونو سره سم په جمهوری فرمان دایریږی .

جمهور رئیس دلویی جرگـــی رئیس دی .

دجمهوررئیس دمړینی یا استعفی په صورت کښی لویه جرگه دمړینی یا استعفا دورځی له تاریخ نه پـه

## فصل ششم

## لو یه جرگه

### ماده شصت وپنجم

در افغانستان لو یه جرگـــه عالیترین مظهر قدرت و اراده مردم آنست .

لویه جرگه مرکب است از :

– اعضای ملی جرگه .

– اعضای شورای مرکزی حزب.

– اعضای حکومت و شورایعالی قوای مسلح .

– اعضای ستره محکمه .

– پنج الی هشت نفر نمایندهازهر ولایت .

– سی نفراعضاء کهبوسیلهفرمان از طرف رئیس جمهور تعییـــــن میشود .

### ماده شصت وششم

لویه جرگه مطابق به احکام ایـن قانون اساسی توسط فرمان رئیس جمهور دایر میشود .

رئیس جمهور، رئیس لویه جرگه میباشد .

درصورت وفـات یا اسـتعفا ی رئیس جمهور در خلال مدت بیست روز از تاریخ وفـات یا استعـفاء

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

شلو ورځو کښې دننه د جمهوري
رياست دمقام له خوا دايريږي .

**اوه شپيتمه ماده**

لويه جرگه دلاندې مقصدونو او
حالاتو دپاره د جمهور رئيس او يا
دلويې جرگې دنائب رئيس په مشرې
دايريږي :

۱ ــ داساسي قانون تعديل .
۲ــ د جمهور رئيس انتخابول
اويا دهغه داستعفى منل .
۳ــ دجنگ او اوربند داعلان
تصويبول .
٤ــ دېلې هرې مهمې پېښې په
مقصد چه دلويې جرگې دتصويب
غوښتنه وکړې .

**اته شپيتمه ماده**

په داسې حالت کښې چه لويه
جرگه دايره وي دهغې دغړو په هکله
ددې اساسي قانون دځلور پنځوسمې
مادې حکم عملي کيږي .

**نهه شپيتمه ماده**

دلويې جرگې مباحثې به ښکاره
وي مگر کله چه دحکومت ددوو برخو
په زياتو غړي يا دگوند مرکزي
شورى او يا دجرگې ديرش تنه غړي
دغوارې چه غونډه دې پټه وي او لويه
جرگه دا غوښتنه ومنې .

**اويايمه ماده**

لويه جرگه دېرانيستلو و روسته
په لومړنې غونډه کښې دځپلو غړو له

لويه جرگه از طرف مقام رياست
جمهوري داير ميگردد .

**ماده شصت وهفتم**

لويه جرگه در حالات آتي تحت
رياست رئيس جمهور ويا نائب
رئيس لويه جرگه داير ميگردد :

۱ــ تعديل قانون اساسي .
۲ــ انتخاب وقبول استعفاى رئيس
جمهور .
۳ــ تصويب اعلان حرب و
متارکه .
٤ــ هر واقعهٔ مهمي که تصويب
لويه جرگه را ايجاب کند .

**ماده شصت وهشتم**

در هنگام داير بودن لويه جرگه
حکم ماده پنجاه و چارم اين قانون
اساسي د رمورد اعضاى آن تطبيق
ميگردد .

**ماده شصت ونهم**

مباحثات لويه جرگه علني ميباشد
مگر اينکه بيش از دو ثلث اعضاى
حکومت ويا شوراى مرکزي حزب
وياسي نفر از اعضاء سري بودن
آنرا در خواست نمايند و لويه جرگه
اين درخواست را بپذيرد .

**ماده هفتادم**

لويه جرگه بعد از افتتاح دراولين
جلسه خود نائب رئيس و دو نفر

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

مینځه یو تن درئیس دنائب په توګه او دوه تنه دمنشیانو په توګه دخپلو غړو درأیو په ۲ اکثریت سره غوره کوی.

**یو اویا ومه ماده**

پرته له هغو حالاتو څخه چه احکام یی پهدی اساسی قانون کښی په څرګند ډول راغلی دی دلویی جرګی تصمیم دهغی دحاضرو غړو په اکثریت سره نیول کیږی.

**دوه اویاومه ماده**

ددی اساسی قانون د حکمو نو سره سم د لویی جرګی تګ لاره دقانون له خوا ښودل کیږی.

**دری اویا ومه ماده**

لویه جرګه هغه واکونه لری چه پدی اساسی قانون کښی تاکل شوی دی.

**څلور اویا ومه ماده**

دملی جرګی دړنګیدو په حالت کښی دهغی غړی دلویی جرګی دغړو په توګه خپل حیثیت دنوی ملی جرګی تر دایریدو پوری ساتی.

پهداسی حالت کښی چه دلویی جرګی غونډی روانی وی دهغی ټول غړی پرته لدی چه مقام، رتبه، او وظیفه یی په نظر کښی ونیول شی مساوی حقونه لری.

منشی را از بین اعضای خود بـه اکثریت آراء اعضاء انتخاب میکند.

**ماده هفتاد ویکم**

جز در مواردیکه احکام آن صریحاً د راین قانون اساسی ذکر گردیده تصمیم لویه جرگه به اکثریت آراء اعضای حاضر اتخاذ میگردد.

**ماده هفتاد ودوم**

با رعایت احکام این قانون اساسی طرز العمل لویه جرگه توسط قانون تنظیم میگردد.

**ماده هفتاد وسوم**

لویه جرگه دارای صلاحیت هائی میباشد که د راین قانون اساسـی تعیین گردیده است.

**ماده هفتاد وچارم**

در حالات انحلال ملی جرگـه اعضای آن حیثیت خود را بصفـت اعضای لویه جرگه تا دایر شـدن ملی جرگه جدید حفظ میکنند.

در حالت دایر بودن اجلاس لویه جرگه همه اعضای آن بدون در نظر داشت مقام، رتبه ووظیفه حق مساوی دارند.

ketabton.com - The Digital Library



## اووم فصل

## جمهور رئیس

### پنځه اویاومه ماده

جمهور رئیس دافغانستان ددولت مشر دی او داجرائیه قوی او گوند وظیفی ددی اساسی قانون اودگوند داساسنامی له حکمو نو سره سم په مستقیمه توگه په غاړه لری او د مربوطو اور گانونو دلاری یی اداره او لار ښودنه کوی .

### شپږ اویا ومه ماده

جمهور رئیس لمړی دگوندله خوا نومول کیږی او دیوی شپږ کلنی مودی له پاره دلوی جرگی له خوا دهغی دغړو ددریو برخو څخه ددوو برخو درأیوپه اکثریت انتخابیږی.

### اوه اویا ومه ماده

جمهور رئیس باید دافغانستان داتباعو څخه وی ، مسلمان وی او هغه اوهمسر یی دافغانی مـور او افغان پلاره زیږیدلی وی او دمدنی او سیاسی حقونو څخه گټه من او عمر یی دڅلویښتو کالو څخه کم نه وی .

### اته اویاومه ماده

دجمهور رئیس صلاحیتو نه او وظیفی دادی :

۱ــ دافغانستان دوسله والو قواؤ لویه مشری .

## فصل هفتم

## رئیس جمهور

### ماده هفتادوپنجم

رئیس جمهور در رأس دو لت افغانستان قرار داشته وظایف قوه اجرائیه و حزبی را که مطابق باحکام این قانون اساسی و اساسنامه حزب مستقیماً بعهده دارد توسطاورگنهای مربوط اداره و رهنمایی میکند .

### ماده هفتاد وششم

رئیس جمهور پس از نامزد شدن ازطرف حزب از طریق لویه جرگه باکثریت دو ثلث آراء اعضاء برای مدت شش سال انتخاب میگردد .

### ماده هفتاد وهفتم

رئیس جمهور باید تبعه افغانستان ومسلمان بوده خـود وهمسروی از والدین افغان متولد و ازحقوق مدنی و سیاسی بر خور دار وسن وی ازچهل سال کم نباشد .

### ماده هفتاد وهشتم

رئیس جمهور دارای صلاحیتهـا ووظائف آتی می باشد :

۱ــ قیادت اعلی قوای مسلح کشور.

رسمی جریده

۲ـ دلوی جرگی په سلا دجنګ او اوربند اعلان .

جمهور رئیس کولی شی چه دسملاسی او څرګند خطر په حالت کښی چه خپلواکي اودخاوری‌تمامیت تهدید کړی او یا په نورو سملاسی حالاتو کښی استثنایی تصمیم‌ونیسی او لویه جرگه دایره کړی .

۳ـ داضطرار د حالت اعلا مول‌او ختمول .

٤ـ دلوی جرگی دایرول او پرانیستل .

۵ـ دملی جرگی دعا دی غونډی پرانیستل او دهغی دفوق العاده غونډی دایرول او پرانیستل .

٦ـ دملی جرگی ړنګول او دنوو انتخاباتو دفرمان ایستل . نوی انتخا بات دملی جر گی دړنګو لو دنیټی نه په دریو میاشتو کښی‌دننه سرته رسیږی .

۷ـ دملی یو والی ټینګښت او د افغانستان دخلکو دښیګړو ملاتړ .

۸ـ ددی اساسی قانو ن دحکمونو سره سم دهیواد دکورنی او بهرنی سیاست لار ښودنه او یو شان‌کول.

۹ـ دجزا کمول او ښښل .

۱۰ـ دقانو ن دحکمو نو سره سم دنښان ورکول .

۱۱ـ دګوند دغړو څخه دجمهوری ریاست دمرستیال یا مرستیالا نو او

۲ـ با مشوره لویه جرگه اعلان حرب و متارکه .

در صورت خطر فوری و آشکاری که استقلال وتمامیت ارضی راتهدید کند ویا در حالات عاجل دیگر، رئیس جمهور میتوآند تصمیمات استثنایی اتخاذ نماید و لویه جرگه را دایر کند .

۳ـ اعلان حالت اضطرار و خاتمه دادن به آن .

٤ـ دایر کردن و افتتاح لویه جرگه .

۵ـ افتتاح اجلاس عادی ملی‌جرگه ودایر نمودن و افتتاح اجلاس فوق العاده آن .

٦ـ منحل ساختن ملی جرگه واصدار فرمان انتخا بات مجدد . انتخابات مجدد در خلال مدت‌سه ماه از تاریخ انحلال ملی جرگه صورت میگیرد .

۷ـ تحکیم و حدت ملی‌وپشتیبانی از منافع مردم افغانستان .

۸ـ رهبری و هما هنگ‌ساختن سیاست داخلی وخار جی کشور مطابق باحکام این قانون اساسی .

۹ـ تخفیف وعفو مجازات .

۱۰ـ اعطای نشان مطابق باحکام قانون .

۱۱ـ تعیین معاو ن یا معاو نین ریاست جمهوری از جمله ا عضای

ketabton.com - The Digital Library



دگوند دغړو او له گونده بهر کسانو څخه دوزیرانو ټاکل ، معزولول ،او دهغوی داستعفاء منل .

۱۲ـ دستری محکمی دغړو او د قاضی القضات ټاکل .

۱۳ـ دقانون د حکمو نو سره سم دقا ضیانو ، دوسله والو قوا ؤ دمنصبدارانو ، او عالیرتبه مامورینو ټاکل ، متقاعد کول معزولول او د هغوی داستعفاء منل .

۱۴ـ په بهر نیو ملکونو کښی دافغانستان دسیاسی نمایند گیو دمشرانو ، او په بین المللی مؤسسو کښی دافغانستان‌ددایمی نمایندگانو ټاکل، او دبهرنو ملکونو دسیا سی نمایندگانو باور لیك منل .

۱۵ـ دقوانینو او تقنینی فرمانونو ښکلل‌اودهغو دجاری کولو اعلام . دبین‌الدول معاهدو ښکولل اودقانون دحکمونو سره سم دبین الدول معاهدو دتړون دپاره داعتبار لیك ورکول .

**نهاویا ومه ماده**

جمهور رئیس کولای شی چه په مهمو ملی مسائلو کښی دافغانستان دخلکو عمومی رایو ته مراجعه‌وکړی.

**اتیاومه ماده**

جمهور رئیس په‌وظیفی‌دبوختیدونه دمخه دلوی جرگی په و ړاندی داسی لوړه په ځای کوی :

حزب و همچنان تعیین وزراء ازداخل وخارج حزب، عزل و قبول استعفای آنها .

۱۲ـ تعیین اعضاء ستره محکمه وقاضی القضات .

۱۳ـ تعیین ، تقاعد ، قبو ل استعفاء و عزل قضاو ت ، صاحب منصبان قوای مسلح و ما مورین عالیرتبه مطابق باحکام قانون .

۱۴ـ تعیین سران نمایندگی های سیاسی افغانستان نزد دول‌خارجی، تعیین نماینده گان دایمی افغانستان نزد مو سسات بین المللی وقبول اعتماد نامه های نمایندگان سیاسی خارجی .

۱۵ـ توشیح قوانین و فرامین تقنینی واعلام انفاذ آنها. اعطای اعتبار نامه بغرض عقد معاهدات بین الدول مطابق باحکام قانون وتوشیح معاهدات بین الدول .

**ماده هفتاد ونهم**

رئیس جمهو ر میتواند در موضوعات مهم ملی به آراء عمو می مردم افغانستان مرا جعه نماید .

**ماده هشتادم**

رئیس جمهور قبل از اشغال وظیفه د رمحضر اعضای لو یه‌جرگه حلف آتی را بجا می آورد :

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

ستاسی دافغانستان دملت دنمایندگانو په وړاندی زه . . . . دلوی خدای په نامه لوړه کوم چه داسلام دسپیڅلی دین داسا سو نو ملاتړ به کوم دی اساسی قانون اود افغانستان نورو قوانینو ته به په درنه سترگه گورم، او هغوی ته به غاړه ږدم، دملی خپلواکی اود سیمی دتمامیت خارنه به کوم ، او خپل ټول قوت او طاقت به دافغانستان دخلکو دحقونو او ښیگڼو د ۱۳۵۲ کال دچنگاښ د۲٦ نیټی دانقلاب دهدفونو او جمهوریت دملاتړ په‌لار کښی وقفوم .

بحضور شما نمایندگا ن ملت افغانستان من . . . . . بنام‌خداوند بزرگ سوگند یاد میکنم که اساسات دین مقدس اسلام راحمایت کنم، قانون اساسی و دیگر قوانین افغانستان را محترم شمار(م) وازآنها پیروی کنم ، از استقلال ملی وتمامیت ساحه حراست و تمام نیروی خود را وقف دفاع از حقوق ومنافع مردم واهداف انقلاب ۲٦ سرطان سال ۱۳۵۲ و جمهوریت افغانستان نمایم .

**یو اتیا ومه ماده**

پرته له هغو حالاتو چه ددی اساسی قانون په شپږ دیر شمه‌ماده کښی څرگند شوی‌دی جمهور رئیس دخپلی وظیفی دچلولو په موده‌کښی ددولت سره دهیڅ راز گټی وټی معامله نشی کولی .

**ماده هشتاد ویکم**

به استثنای حالاتیکه در ماده سی وششم این قانون اساسی تصریح گردیده رئیس جمهور در مدت تصدی وظیفه هیچ معا ملـه انتفاعی را با دو لت انجام نمیدهد.

**دوه اتیاومه ماده**

جمهور رئیس دناروغی او دسفر په وخت کښی دجمهوری ر یاست مرستیال او یا مرستیالانو ته‌وظیفه ورکوی چه دهغو لار ښودنو سره‌سم چه دوی ته یی صادری کړی دده په عوض کار وکاندی .

**ماده هشتاد ودوم**

رئیس جمهور در حالت مریضی ویا سفر معاون یا معاونین ریاست جمهوری را مؤظف میسازد تا طبق هدایاتیکه صادر میکند عوض وی‌کار نماید .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

## دری اتیا ومه ماده

دجمهور رئیس معاش او لگښت دقانون له خوا ټاکل کیږی .

## څلور اتیا ومه ماده

دجمهور رئیس دانتخا بو لــو دپاره د جمهوری ریاست ددوری دپای ته رسیدو نه پنځه څلویښت ورځی وړاندی باید ددی اساسی قانون اود گوند داساسنامی دحکمونو سره سم لازم چلند وکړی شی .

## پنځه اتیاومه ماده

که چیری جمهور رئیس داستعفا تکل وکړی لویه جرگه دایـــرو ی او خپل استعفا لیك مستقیماً هغی ته وړاندی کوی .

په‌داسی حالت‌کښی چه‌لویه‌جرگه دا استعفا قبوله کړی دنوی جمهور رئیس انتخاب ددی اساسی قانون دشپږ اتیاومی مادی سره سم‌صورت نیسی .

## شپږ اتیا ومه ماده

که چیری جمهور رئیس مړ شی اویا استعفا وکړی د جمهـــوری ریاست وظیفه په موقتی ډول دملی جرگی رئیس ته سپارله کیږی پدی حالت کی دملی جرگی رئیس پـــه انتخاباتو کښی دجمهوری ر یاست دنوملی په توگه ټاکل کیدای نشی. پدغه موده کښی چه دملی جر گــی

## ماده هشتاد وسوم

معاش و مصارف رئیس جمهور توسط قانون تعیین میگردد .

## ماده هشتاد وچارم

برای انتخاب رئیس جمهور باید چهل وپنج روز قبل ازختم دوره ریاست جمهوری مطابق به احکام‌این قانون اساسی و اساسنامه حز ب اقدامات لازمه بعمل آید .

## ماده هشتاد وپنجم

هر گاه رئیس جمـهــور اراده استعفا بنماید لویه جرگه را دایــر واستعفا نامه خود را مستقیماً‌به‌لویه جرگه تقدیم میدارد .

در صورتیکه لویه جرگه ایـــن "استعفاء را قبول‌نماید انتخاب‌رئیس جمهور جدید طبق ماده هشتـاد وششم این قانون اساسی صور ت میگیرد .

## ماده هشتاد وششم

هرگاه رئیس جمهور و فات‌نماید یا استعفـا دهد و ظیفـه ر یاست جمهوری مؤقتاً برئیس ملی جرگـه سپرده میشود . در این حالت‌رئیس ملی جرگه بحیث نا مزد ریاســت جمهوری در انتخابات تعیین شــده نمیتواند .

در زمان تصدی رئیس ملی جرگه

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

رئیس د جمهوری ریاست وظیفه په مؤقتی ډول چلوی دا اساسی قانون تعدیلیدی نه شی .

نوی جمهوررئیس د جمهوری ریاست دکرسی دتشیدنی له ورځی څخه په دیرشو ورځو کښی د ننه د قانون دحکمونو سره سم انتخا بیږی .

دهغو عاجلو او ملی مهمو پیښو درابر سیره کیدو په حالت کی چه مؤقتی جمهور رئیس دی ته اړ کړی چه ددی اساسی قانون(۷۸)ماده کښی دراغلو صلاحیتونو څخه کار واخلی مؤقتی جمهور رئیس کولای شی چه ددغی مادی دحکمونو په رعایت دحکومت او دګوند دمرکزی شوری دغړو دموافقی سره سم ددی اساسی قانون داته اویاو می مادی دمندرجو صلاحیتو نو څخه استفاده وکړی .

### اوه اتیاومه ماده

په جمهور رئیس باندی دملی خیانت تور دملی جرګی ددریو برخو څخه ددوو برخو غړو درایو په اکثریت لګول کیدی شی دا غوښتنه دګوند دمرکزی شوری ددریو برخو څخه ددو برخو غړو درایوداکثریت دمنلو وروسته لوی جرګی ته وړاندی کیږی.

پدی حالت کی جمهور رئیس مکلف دی چه لویه جرګه دایره کړی.

دملی جرګی رئیس دلویی جرګی

بحیث رئیس جمهور مؤقت، این قانون اساسی تعدیل شده نمیتواند.

رئیس جمهور جدید باید درظرف سی روز بعد از تاریخ خالی شدن کرسی ریاست جمهوری مطابق باحکام این قانون اساسی انتخاب گردد . در صورت بروز حالات عاجل ومهم ملی ایکه رئیس جمهور مؤقت را به اعمال صلاحیت های مندرج ماده هفتاد و هشتم این قانون اساسی مجبور سازد رئیس جمهور مؤقت میتواند با موافقه اعضای حکومت و شورای مرکزی حزب با رعایت احکام مندرج این ماده از صلاحیتهای متذکره ماده هفتاد وهشتم این قانون اساسی استفاده نماید .

### ماده هشتاد وهفتم

اتهام به جرم خیانت ملی علیه رئیس جمهور از طرف دو ثلث اعضای ملی جرگه تقاضا شده میتواند . این تقاضا بعد از موافقه دوثلث آراء اعضای شورای مرکزی حزب به لویه جرگه ارائه میشود.

د راین حالت رئیس جمهور مکلف است لویه جرگه را دایر نماید .

رئیس ملی جرگه از جلسات لویه جرگه ریاست مینماید .

هرگاه لویه جرگه اتهام منسوبه

ketabton.com - The Digital Library



دغونډو مشري کوي ، کله چه لویه جرګه لګول شوی تور دوپړاندي‌شوو دلایلو سره سره ددریو برخو څخه دخپلو دوو برخو غړو درایو په اکثریت تصویب کړي دجمهوررئیس لاس دکاره ایستل کیږي .

دمحکمی جوړښت او دمحاکمی لاری چاری په بیل ډول دخاص‌قانون له پلوه ښودل کیږي .

پدی حالت کی د جمهوری ریاست چار ی په مؤ قتی تو ګه دملی جرګی رئیس ته سپارلی کیږي .

مؤقت جمهور رئیس ددی‌اساسی قانون دشپږ اتیاو می مادی‌دحکمونو تابع دی .

## اتم فصل

## حکومت

### اته اتیاومه ماده

حکومت ددولت ستر اداری او اجرائیوی اورګان دی چه د جمهوری ریاست د مرستیال یا مرستیالانواو وزیرانو څخه جوړ دی او د جمهور رئیس تر مشري لاندی خپله وظیفه سرته رسوی .

### نه اتیاومه ماده

دجمهور ی ریاست مرستیا ل یا مرستیا لان‌اووزیران بایدافغانستان له اتباعو څخه وی هغوی‌او همسران

را با دلایل‌ارائه شده آن به‌اکثریت دوثلث آراء اعضای خود تصویب نماید رئیس جمهور از وظیفه سبکدوش میگردد .

ترکیب محکمه وطرز العمل محاکمه طور جداگانه توسط قانو ن خاص تنظیم میشود .

د راین حا لت و ظیفهٔ ریاست جمهور ی مؤقتاً به رئیس ملی جرگه سپرده میشود .

رئیس جمهور مؤقت تابع احکام مندرج ماده هشتاد و ششم این قانون اساسی می باشد .

## فصل هشتم

## حکومت

### ماده هشتادوهشتم

حکومت اورگان عالی اجرائیوی و اداری دو لت و متشکل ا زمعاون یا معاونین ریاست جمهوری و وزراء میباشد که تحت رهبری رئیس جمهور ایفای وظیفه مینماید .

### ماده هشتاد ونهم

معاون یا معاونین رئیس جمهور ووزراء باید تبعه افغانستان بوده

ketabton.com - The Digital Library



یی دافغانی مور او افغان پلاره زیږیدلی وی ، ټول مدنی اوسیاسی حقونه یی په ځای وی .

### نوی یمه ماده

دجمهوری ریاست مرستیال یا مرستیالان او وزیران په وظیفو دبوختیدو نه مخکی د جمهور رئیس په وړاندی داسی لوړه کوی :

دلوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چه دافغانستان اساسی قانون اونورو قوانینو ته به په درنه‌سترگه گورم او هغوی ته به غاړه ږدم او خپل ټول قوت او طاقت به دملی ښیگڼو او حقونو دملاتړ په‌لارکښی وقفوم، او د ۱۳۵۲ کال دچنگاښ شپږ ویشتمی نیټی‌دانقلاب دهدفونو او دافغانستان د جمهوریت ساتنه‌به کوم .

### یو نوی یمه ماده

حکومت دا لاندی واکونه او وظیفی لری :

۱ـ دقانون د حکمونو او دگوند داساسونو سره سم د هیواددکورنی او بهرنی سیاست په ځای کول.

۲ـ دمربوطه وزارتونو ددایرو او په هغوی پوری دمتعلقو مؤسسو دچارو اداره او څارنه اودهغوی داجراآتو یو شانته کول .

۳ـ به اجرائیوی او اداری چارو

خود و همسران شان از والدین افغان متولد و واجد تمام حقوق‌مدنی وسیاسی باشند .

### ماده نودم

معاون یا معاونین رئیس جمهور ووزراء قبل از اشتغال وظیفه حلف آتی را بحضور رئیس جمهور بجا می آورند :

بنام خداوند بزرگ (ج) سوگند یاد میکنم که قانون اساسی ودیگر قوانین افغانستان را محترم شمارم وازآن پیروی کنم و تمام نیروی‌خود راوقف دفاع از حقوق و منافع ملی نموده از اهداف انقلاب ۲۶ سرطان سال ۱۳۵۲ و جمهوریت افغانستان حمایت نمایم .

### ماده نود ویکم

حکومت دارای وظایف و صلاحیت های ذیل میباشد :

۱ـ تطبیق سیاست داخلی و خارجی کشور مطابق به احکام قانون و اساسات حزب .

۲ـ اداره ، انسجام و مراقبت امور وزارت ها و سایر دوایر و موسسات عامه .

۳ـ صدور تصامیم اجرائیوی

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

کی دقوانینو او جمهوری فرمانونو سره سم تصمیم نیول او دهغو دعملی کیدو څارنه .

٤ـ دقوانینو دمسودو جوړول او دمقرراتو وضع کول .

٥ـ ددولت دبودجې دسمبنت او جوړښت او داقتصادی، مالی‌اوپولی سیستم دټینګښت دپاره دلا روچارو پیدا کول .

٦ـ ددولت دپرمختیایی پلا نونو طرح او دهغو دعملی کیدو اواجراآتو دپاره دلارو چارو سنجول .

٧ـ دبهرنیو او کورنیو پوروونو دراکړی ورکړی په هکله مفاهمه او خبری .

٨ـ دعمومی نظم او امن دساتلو دپاره دلارو چارو سنجول .

٩ـ دهردول اداری فساد دمنځه وړلو دپاره دقانون دحکمونو سره سم لازم او اغیزه‌ناکه تدبیرونه غوره کول .

١٠ـ دبهرنیو هیوادو اومؤسسو سره دقانون دحکمونو سره سم دقرار دا دونو تړون .

١١ـ دنورلو هغو وظیفو په څا ی کره چه دی اساسی قانون او نورو قوانینو حکومت ته سپارلی وی .

**دوه نوی یمه ماده**

حکومت دخپلو وظیفو دسمو ن

واداری طبق قوانین و فرامین صادره و نظارت بر تطبیق آنها .

٤ـ تسوید قوانین‌ووضع‌مقررات.

٥ـ ترتیب وتنظیم بودجه دولت واتخاذ تدابیر برای استحکام وضع اقتصادی و سیستم پولی ومالی .

٦ـ طرح پلانهای انکشافی دولت واتخاذ تدابیر برای تطبیق و اجرای آن .

٧ـ مفاهمه و مذاکره راجع به گرفتن و دادن قروض داخلی و خارجی .

٨ـ اتخاذ تدابیر برای تامین‌نظم وامن عامه .

٩ـ اتخاذ تدابیر لازم و موثر جهت از بین بردن هرنوع فساد اداری مطابق به احکام قانون .

١٠ـ عقد قرار داد ها با ممالك و موسسات خارجی مطابق به‌احکام قانون .

١١ـ اجرای سایر وظایفیکه این قانون اساسی وقوانین به حکومت سپرده باشد .

**ماده نو دودوم**

حکومت برای تنظیم امور بر

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

دپاره دقانون پر بنیاد مقــررات جوړوی .

دا مقررات باید چه دهیڅ قانون دعبارت اوروح سره تناقض ونه لري.

## دری نوی یمه ماده

دهغو حالاتو پرتــه چــه ددی اساسی قانو ن په شپږ دیر شــمه ماده کښی څرګند شوی دی دجمهوری ریاست مرستیال یا مرستیا لان او وزیران دوظیفو داجرا کولو په وخت کښی دګټی وټی هیڅ ډول معا مــله ددولت سره نشی کولی .

## څلور نوی یمه ماده

دجمهوری ریاست مرستیال یــا مرستیالان او وزیران دخپلو اجراآتو له بابته جمهور رئیس، دګونـــد مرکزی شوری او ملی جرګی تـــه مسؤل دی .

## پنځه نوی یمه ماده

دجمهوری ریاست مرستیا ل یــا مرستیالانو او دحکومت دهریو غړی په هکله دګناه تړلو تور دملی جرګی دغړو ددریمی برخی په غوښتــنه کیدی شی .

ملی جرګه دا غوښتنه دخپلودوو برخو غړودرایوپه اکثریت تصویبوی.

تورن غړی دملی جرګی دپریکړی وروسته سملاسی دخپلی وظیفی څخه لری کیږی .

اساس قوانین، مقررات وضع میکند.

این مقررات مناقض نص یا روح قانون بوده نمیتواند .

## ماده نود وسوم

به استثنای حالاتیکه در مــاده سی و ششم این قانو ن اساســی تصریح گردیده معاون یا معاونیــن رئیس جمهور ووزراء در مــدت تصدی وظیفه هیچ معامله ا نتفاعــی را با دولت انجام داده نمیتوانند .

## ماده نود وچارم

معاون یا معاونین رئیس جمهور ووزراء در برابر رئیس جمهور، شورای مرکزی حزب و ملی جر گه در قسمت اجرا آت خود مسئو ل میباشند .

## ماده نود وپنجم

اتهام جرم علیه معاون یا معاونین رئیس جمهور یا هریکی از وزراء از طرف یك ثلث اعضای ملی جرگــه تقاضا شده میتواند .

این تقاضا صرف به اکثریــت دوثلث آراء اعضای ملی جرگــه تصویب میگردد .

متهم پس از تصویب از وظیفه منفصل میشود .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

دتورن غړی محاکمه دیوی خاصی محکمی په وړاندی دایریږی .

دمحکمی جوړښت او دکار لاری چاری یی او همدارنگه دحکومت دتورنو غړو سزا گانی په ځانگړی ډول دیو خاص قانون له پلوه څرگندیږی .

## نهم فصل

## قضاء

### شپږنوی‌یمه ماده

قضائیه قوه ددولت یو رکن دی چه دیوی ستری‌محکمی اونورومحکمو څخه جوړیږی چه شمیر یی په‌قانون کی ښودل کیږی .

ددی قوانینو لوی هدف دقضایی مرافقو یووالی دمحاکمو دتشکیلاتو واك او دمحاکمی دتگ لاری‌تنظیمول دی .

### اوه نوی‌یمه ماده

دقضاء واك او اختیار دټولو هغو دعوو غور او پریکړی ته غځیږی چه په هغی‌کښی حقیقی یاحکمی‌اشخاص که څه هم دولت وی دمدعی یا مدعی علیه حیثیت لری او دقضا په‌وړاندی دقانون دحکمونو سره سم دایری شی .

### اته نوی‌یمه ماده

برته دجنگ له حالته بل هیڅ یو حالت نشی کولی چه یوه قضیه یا

محاکمه متهم د رمحضر محکمه خاص دایر میشود .

ترکیب محکمه ، وطر ز العمل محاکمه آن و همچنان مجا زات طور جداگانه توسط قانون خاص تنظیم میگردد .

## فصل نهم

## قضاء

### ماده نود وششم

قوه قضائیه یك رکن دو لت و مرکب است از ستره محکمه ومحاکم دیگریکه تعداد آن توسط قانون تعیین میگردد .

هدف عمده این قوانین تو حید مرافق قضایی و تنظیم تشکیلات صلاحیت محاکم وطرز العمل‌محاکمه میباشد .

### ماده نود وهفتم

صلاحیت قضاء شا مل رسیدگی به تمام دعاوی ایست که در آن اشخاص حقیقی یا حکمی بشمول دولت بصفت مدعی یا مدعی علیه قرار گرفته و به پیشگاه آن مطابق به احکام قانون اقامه شود .

### ماده نود و هشتم

در هیچ حالت به استثنای حرب نمیتوان قضیه یا ساحه را از دایره

ketabton.com - The Digital Library



يوه ساحه ددولت دقضايي قوى دواك او اختيار له دايرې څخه په هغه ډول چه پدې فصل کښې يې بريدونه ښودل شويدي وباسي او بل مقام ته ئې وسپاري .

داحکم دعسکري محکمو دجوړيدو مخه نه نيسي خو دا محکمې به يوازې دهغو جرمونو په ساحه کښې وي چه دافغانستان دوسله والو قواوو پورې اړه لري .

دعسکري محکمو تشکيل واك او اختيار په قانون کښې ښودل کيږي .

### نه نوی يمه ماده

محکمې چه په کومو پيښو باندې غور کوي په هغوی کښې ددې اساسي قانون او ددولت دنورو قوانينو حکمونه پرځای کوي .

که دغور لاندې پيښو څخه ديوې پيښې په باب په اساسي قانون او ددولت په قوانينو کښې کوم حکم نه وي نو محکمې داسلامي شريعت د حنفي مذهب دکلي اساسونو له مخه په هغه چوکاټ کښې دننه چه دې اساسي قانون ښودلی دی پدې حالاتو کښې يو داسې حکم راباسي چه ددوی په نظر کښې څومره چه ممکنه وي عدالت تر ټولو په ښه‌توګه ترسره کړي .

صلاحيت قوه قضائيه دولت به نحويکه در اين فصل تحديد شده خارج ساخت و به مقام ديگری تفويض نمود .

اين حکم مانع تشکيل محاکم عسکری نميگردد ولی ساحه اين نوع محاکم به جرايم مربوط به قوای مسلح افغانستان منحصر ميباشد .

تشکيل وصلاحيت‌محاکم عسکري توسط قانون تنظيم ميگردد .

### ماده نود ونهم

محاکم درقضايای مورد رسيدگی خود احکام اين‌قانون اساسی‌وقوانين دولت را تطبيق ميکنند .

هرگاه برای قضيه‌ای از قضايای مورد رسيدگی درقانون اساسی و قوانين دولت حکمی موجود نباشد محاکم به پيروی از اساسات کلی‌فقه حنفی شريعت اسلام در داخل حدوديکه اين قانون اساسی وضع نموده در چنين احوال حکمی صادر ميکنند که درنظر شان عدالت را به بهترين صورت ممکن تأمين نمايد .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

### سلمه ماده

قاضیان دقاضی القضات په‌غوښتنه دجمهور رئیس په منله تاکل کیږی.

### یو سلو یومه ماده

د قاضیانو عزل د قاضی دجرم دکولو په حالت کی د ستری محکمی په غوښتنه او د جمهور رئیس په منله صورت نیسی .

که چیری په قاضی باندی د جرم کولو تور ولگول شی ستره محکمه دقانون دحکمو نو سره سم دده په حال غور کوی او دتورن ددفاع د اوریدو څخه وروسته که ستره‌محکمه په قاضی باندی لگول شوی تور وارد وگڼی دتورن قاضی دعزل پیشنهاد جمهور رئیس ته وړاندی کوی هر کله چه د جمهور رئیس له خوا دغه غوښتنه ومنل شی قاضی د وظیفی څخه معزو لیږی او د قانون دحکمو نو سره سم په سزا رسیږی .

### یو سلو دویمه ماده

د قاضیانو ترفیع ، بدلول ، تقاعد استعفاء او د هغوی مؤاخذه دقانون د حکمو نو سره سم دستری محکمی له پلوه سر ته رسیږی .

### یو سلو دریمه ماده

دقا ضیانو دپاره دقانون له پلوه مناسب معاش تاکل کیږی.

### ماده صدم

قضات به پیشنهاد قاضی‌القضات ومنظوری رئیس جمهور تعیین میگردند .

### ماده یکصدویکم

عزل قضات باثر ارتکاب جرم به پیشنهاد ستره محکمه و منظوری رئیس جمهور صورت می‌گیرد هرگاه قاضی به ارتکاب جرمی متهم شود ستره محکمه مطابق به احکام قانون بحالت قاضی رسیدگی نموده پس‌از استماع دفاع اودرصورتیکه ستره محکمه اتهام را وارد بداند پیشنهاد عزلش را به رئیس جمهور تقدیم و بامنظوری آن ازطرف رئیس جمهور قاضی از وظیفه عزل و مطابق به احکام قانون مجازات میشود .

### ماده یکصد ودوم

تبدیل ، ترفیع ، تقاعد ، قبول استعفا ومواخذهٔ قضات‌توسط ستره محکمه مطابق باحکام قانون صورت میگیرد .

### ماده یکصدو سوم

برای قضات معاش مناسب‌توسط قانون تعیین میگردد .

ketabton.com - The Digital Library



## یو سلو څلورمه ماده

پرته له هغو حالاتو چه د دی اساسی قانون په شپږ دیر شمه ماده کښی څرګند شوی دی دستری محکمی غړی اوقاضی القضات دخپلو وظیفو چلولو په موده کښی دګټی وړتی هیڅ ډول معامله د دولت سره نشی کولی .

## یو سلو پنځمه ماده

د افغانستان په محکمو کی محاکمه په ښکاره ډول کیږی او دقانون د حکمو نو سره سم هر څوك دور تلو حق لری .

دمحکمو دټولو قطعی پریکړو عملی کول واجب دی خو دچا دمرګ دحکم په حالت کښی دآخرنی محکمی پـه پریکړی دعملی کولو دپاره د جمهور رئیس ښکلل شرط دی .

محکمه کولی شی چه په هغه ګوښو حالاتو کښی چه قانون څرګند کړیدی پټه غونډه وکړی ولی د حکم اوریدل به هرو مرو ښکاره وی .

محکمی مکلفی دی چه دور کړی حکم سره یو ځای په خپلو پریکړو کښی دحکم سببو نه څرګند کړی .

## یو سلو شپږمه ماده

دجر مونو کشف د پولیسو له خوا او دجرمونو تحقیق، تعقیب اوددعوی

## ماده یکصدو چارم

به استثنای حالاتیکه در مـاده سی وششم این قـانون ا سا سی تصریح گردیده اعضای ستره محکمه وقاضی القضات در مـد ت تصدی وظیفه هیچ معامله انتفاعی را با دولت انجام داده نمی توانند .

## ماده یکصدو پنجم

درمحاکم افغانستان محا کمـه بصورت علنی اجرا میشود وهرکس حق حضور را دران مطابق باحکـام قانون دارد .

فیصله های قطعی محاکم واجب‌التعمیل است مگر در حالت حکـم به مرگ شخص که تعمیـل حکم محکمه نهایی مشروط به تـوشیح رئیس جمهور می باشد .

محکمه میتواند درحالت استثنائی که در قانون تصریح گردیده باشد جلسات سری دایر کندولی اعلام حکم باید بهر حال عـلناً صو ر ت بگیرد .

محاکم مکلف اند اسباب حکمی را که صادر میکنند در فیصله خود ذکر نمایند .

## ماده یکصدو ششم

کشف جرایم ازطرف پولیس، تحقیق ، تعقیب واقامه دعوی آن از

ketabton.com - The Digital Library



سورول دقانون دحکمو نو سره سم دخارنوال لەخواچه ددولت پەاجرائيه قوي پوري تړلي دي کيږي .

دعغو جر مو نو کشف او تحقيق چه دافغا نستان په وسله والوقواوو پوري اړه لري دخاص قانون له خوا تنظيميږي .

## يو سلو اوومه ماده

ستره محکمه (۹) غړي لري چه دجمهور رئيس له خوا ټاکل کيږي .

دستري محکمي غړي بايد دلاندي صفتو نه ولري :

۱ ـ دعمر پنځه ديرش کاله يې پوره کړي وي .

۲ ـ دټاکل کيدو دنيټي څخه مخکي يې بايد لږ تر لږه لس کاله پخوا دافغانستان ددولت تابعيت حاصل کړي وي .

۳ـ دمحکمي له خوا د سيا سي حقو نو څخه په محرو مي محکو م شوي نه وي .

٤ ـ دحقوقو پەعلم ، ملي هدفونو او د افغانستان په حقوقي نظام باندي په پوره اندازه پوه وي .

جمهور رئيس د ستري محکمي دغړو له جملي څخه يو غړي چه عمر يې له څلويښتو کالو څخه کم نه وي دقاضي القضات په توګه ټاکي .

جمهور رئيس کولاي شي چه دستري محکمي په غړو او دقاضي ـ

طرف څارنوال که جزء قوه اجرائيه هستند مطابق با حکام قانون‌صورت ميگيرد .

کشف و تحقيق جرايم مربوط به قواي مسلح افغانستان توسط قانون خاص تنظيم ميگردد .

## ماده يکصدو هفتم

ستره محکمه مرکب است از(۹) عضو که ازطرف رئيس جمهورتعيين ميشوند .

عضو ستره محکمه بايد داراي اوصاف ذيل باشد :

۱ـ سن سي وپنج‌سالگي‌راتکميل نموده باشد .

۲ـ اقلا ده سال قبل از تاريخ تعيين تابعيت د ولت افغانستان را کسب کرده باشد .

۳ـ از طرف محکمه بحرمان از حقوق سياسي محکوم نشده باشد.

٤ـ از اهداف ملي ، علم حقوق، ونظام حقوقي افغانستان آگاهي‌کافي داشته باشد .

رئيس جمهور يکنفر از جملە اعضاي ستره محکمه را که سن او از چهل سال کمتر نباشد به حيث قاضي‌القضات تعيين مينمايد .

رئيس جمهور مي‌تواند بر تعيين اعضاي ستره محکمه وقاضي‌القضات

ketabton.com - The Digital Library



القضات په مقرری باندی دتها کنی له وخته هر پنځه کاله وروسته نوی کتنه وکړی .

ددی حکم او ددی اساسی قانو ن د (۱۱۱) مادی د حکم څخه پرته په بل هیڅ ډول دستری محکمی غړی او قاضی القضات دخپلو وظیفو څخه لری کیدلی نشی .

**یو سلو اتمه ماده**

دستری محکمی غړی او قاضی ــ القضات په وظیفو دبو ختیدو څخه مخکی دجمهور رئیس په وړاندی داسی لوړه په ځای کوی :

«د لوی خدای جل جلاله په نامه لوړه کوم چه دقضا وظیفه به په پوره امانت او شرافت سره په ځای کوم، حق او عدالت به داسلام دسپیڅلی دین داساساتو او داساسی قانون دنورو حکمونو ، ارزښتونو او دافغانستان د جمهوری دولت دقوانینو په نظر کښی نیولو سره سم تامینوم او په خپلو ټولو اجراآتو کښی به خدای جل جلاله حاضر گڼم او د عدالت په گټه به د هیواد او دخلکو دحقونو ساتنه کوم.»

**یو سلو نهمه ماده**

دهغه حالت نه پرته چه ددی اساسی قانون په یو سلو یوولسمه ماده کښی ښودل شوی دی دستری محکمی غړی او قاضی القضات په

بعد از مرور هر پنج سال از تاریخ تعیین شان به وظایف مذکور تجدید نظر بنماید .

بارعایت این حکم اعضای ستره محکمه وقاضی القضات بهیچ وسیلهٔ دیگر به استثنای حالت مندرج ماده (۱۱۱) این قانون اساسی از وظایف شان برطرف نمیشوند .

**مادهٔ یکصدو هشتم**

اعضای ستره محکمه وقاضی القضات قبل از اشغال وظیفه حلف آتی را بحضور رئیس جمهور بجا می‌آورند :

« بنام خداوند بزرگ(ج) سوگند یاد میکنم که وظیفه قضاء را باکمال امانت وشرافت اجرا نموده حق وعدالت را بارعایت اساسات دین مقدس اسلام و سایر احکام وارزش های قانون اساسی وقوانین دولت جمهوری افغانستان تأمین نمایم ودر همه اجرا آت خود خداوند جل جلاله را حاضر دانسته حقوق مردم ووطن را به نفع عدالت حمایت نمایم .»

**ماده یکصدونهم**

به استثنای حالت مندرج ماده (۱۱۱) این قانون اساسی اعضای ستره محکمه وقاضی القضات بعداز ختم قانونی دوره خدمت برای بقیه

ketabton.com - The Digital Library



قانونی ټول د خدمت د دوری له ختمیدو نه وروسته دپاتی عمر ټوله موده دخدمت ددوری له ټولو مالی ښیګڼو نه ګټه اخلی .

دخدمت د دوری له ختمیدو نه وروسته د ستری محکمی غړی او قاضی القضات دملی جرګی او حکومت ،غړیتوب اوددولت ماموریت نشی کولای .

### یو سلو لسمه ماده

د ستری محکمی هرغړی ،اوقاضی القضات کولی شی د قانون دحکمونو سره سم دخپلی وظیفی څخه استعفاء وکړی .

دستری محکمی دغړو او دقاضی- القضات استعفاء دجمهور رئیس د منلو له نیټی وروسته نافذیږی .

مستعفی غړی او قاضی القضات دهغو مالی ښیګڼو څخه چه په یو سلو نهمه ماده کښی راغلی دی استفاده نشی کولای .

ټول هغه قیود چه دیو سلو نهمی مادی په آخری فقری کښی راغلی دی په مستعفی غړی اوقاضی القضات باندی تطبیقیږی .

### یوسل ویوولسمه ماده

که چیری دملی جرګی دریمه برخه غړی دوظیفی له اجرا نه دراپور ته شوی جرم په تور دقاضی القضات یا دستری محکمی دیوه یا څو تنو

مدت حیات ازتمام امتیازات مالی دوره خدمت شان مستفید میشوند .

اعضای ستره محکمه وقاضی القضات نمی توانند بعد از ختم دوره خدمت عضو حکومت ، عضو ملی جرگه ویا مامور دولت باشند .

### ماده یکصدو دهم

هرعضو ستره محکمه و قاضی القضات می تواند طبق احکام قانون استعفأ بدهد، استعفای اعضای ستره محکمه وقاضی القضات از تاریخ منظوری آن از طرف رئیس جمهور نافذ می گردد ، قاضی القضات وعضو مستعفی ازامتیازات مالی مندرج ماده یکصدو نهم این قانون اساسی مستفید شده نمیتوانند .

قیود متذکره فقره اخیر ماده یکصد ونهم بالای هرعضو مستعفی و قاضی القضات قابل تطبیق میباشد.

### ماده یکصدو یازدهم

هرگاه یک ثلث اعضای ملی جرگه محاکمه قاضی القضات یایک یا چند عضو ستره محکمه را براساس اتهام بجرم ناشی از اجرای وظیفه تقاضا

ketabton.com - The Digital Library



غړو د محاکمی غوښتنه وکړی اوملی جرگه له دریوبرخو څخه ددووبرخو غړو درایو په اکثریت دا غوښتنه ومنی نو دتورن لاس دکاره ایستل کیږی .

ملی جرگه دغړو له منځه یو غړی ددعوی دسورو لو او داتو غړو څخه جوړه یوه ډلگی دمحاکمی چلولودپاره ټاکی .

دا ډلگی دملی جرگی درئیس په مشری دجزایی محکمی دتگ لاری سره سم تورن محا کمه کوی او که چیری په تورن باندی جرم ثابت شی نودی دوظیفی نه معزولیږی او سزا ور کوی .

## یو سلو دولسمه ماده

ستره محکمه ددی اساسی قانون اونورو قوانینو دحکمو نوسره سم دمحکمو اجرا آت ، تشکیلات او د دولت قضائی چاری سموی .

پرته له هغو مواردوڅخه چه پدی اساسی قانون کښی څرگند شویدی دستری محکمی اداری او قضائی صلا حیتو نه دقانون له پلوه ښودل کیږی .

ستره محکمه د محکمو د اداری چارو دسمون دپاره ضروری لا ری چاری برابر وی .

دقضائی قوی بودجه د قاضی –

نمایند و ملی جرگه این تقاضا را به اکثریت دوثلث اعضاء تصویب کند متهم ازوظیفه سبکدوش میشود .

ملی جرگه از بین اعضاء یك نفر را جهت اقامه دعوا و هیأتی را مرکب از هشت نفر برای اجرای محا کمه تعیین میکند .

این هیأت تحت ریاست رئیس ملی جرگه متهم را مطابق به طرز العمل محکمه جزائی محاکمه مینماید ودر صورتیکه جرم متهم ثابت شود اورا ازوظیفه عزل و بجزا محکوم میسازد .

## ماده یکصدو دوازدهم

ستره محکمه تشکیلات واجراآت محاکم وامور قضائی دولت را مطابق باحکام این قانون اساسی و قوانین تنظیم مینماید .

جز در مواردیکه درین قانون اساسی تصریح گردیده صلا حیت های قضایی واداری ستره محکمه توسط قانون تنظیم میشود .

ستره محکمه تدابیر لازم را جهت تنظیم امور اداری محاکم اتخاذ میکند.

بودجه قوهٔ قضائیه از طرف

ketabton.com - The Digital Library



القضات له خوا د حکومت په سلا جوړیږی او ددولت دبودجی دیو ی برخی په ثیر د حکومت له خوا ملی جرگی ته وړاندی کیږی .

دقضاء دبودجی دلگولو واك دستری محکمی په لاس کښی دی .

ستره محکمه کولی شی دقضا ئی چارو دسمون په برخه کښی دقوانینو مسودی جوړی اوددی اساسی قانون ددوه شپیتمی مادی د حکم سره سم یی ملی جرگی ته وړاندی کړی .

## یو سلو دیار لسمه ماده

د قضائی قوی دما مورینو او نورلو اداری کار کوونکو په هکله د دولت دما مورینو اونورلو اداری کارکوونکو دقوانینو حکمونه نا فـذ دی خـو ددوی ټاکل ، ترفیع ، استعفاء منل مؤاخذه ، او هغوی ته تقا عد ورکول دقانون سره سم دستری محکمی له پلوه سر ته رسیږی .

## لسم فصل

## اضطرار

## یو سلو څوار لسمه ماده

که چیری دجنگ ، دجنگ دخطر دالی گولی یا بل دغسی حالت لـه کبله چه هیواد دخطره سره مخامخ کړی او د خپلواکی ، امنیت او ملی ژوند ساتنه پـه هغه لار چـه دی اساسی قانون ښودلی ده نا ممکنه

قاضی القضات به مشوره حـکومت ترتیب گردیده بحیثیك جزء بودجه دولت توسط حکو مت به ملی جرگه تقدیم‌میشود، تطبیق بودجه قضاء از صلاحیت ستره محکمه می باشد .

ستره محکمه می تواند در ساحهٔ تنظیم امور قضائی قوانین را تسوید وآنرا مطابق بحکم مندرج‌ماده‌شصت ودوم این قانون اساسی به‌ملی جرگه پیشنهاد نماید .

## ماده یکصدو سیزدهم

درمورد مامورین و سایر کارکنان اداری‌قوهٔ قضائیه، احکام قوا نین مربوط به ما مورین وسایر کارکنان اداری دولت نافذ می‌باشد‌ولی‌تعیین، ترفیع ، قبول استعفاء ، موا خـذه وتقاعدشان توسطستره‌محکمه‌برونق قانون صورت میگیرد .

## فصل دهم

## اضطرار

## ماده یکصدو چاردهم

هرگاه حرب ، خـطر حـرب ، اغتشاش یاحالت مماثلیکه کشوررا باخطر مواجه‌سازد حفظ استقلال و حیات‌ملی یا امنیت را برهم زنـد به نحویکه تا مین آن از مجرا نیکه

ketabton.com - The Digital Library



شی ، نو دجمهور رئیس لـه خوا د اضطرار حالت اعلامیږی .

که داضطرار حالت د څلـو رو میا شتو نه زیات دوام وکړی ، نو د هغی داوږ دوالی دپاره د ملی جرگی منته شرط ده .

**یو سلو پنځلسمه ماده**

د اضطرار په حالت کښی جمهور رئیس کولی شی چه دملی جر گـی ټول یا ځینی واکو نه د حکومت په لاس کښی ور کړی .

**یو سلو شپا ړسمه ماده**

داضطرار په حالت کښی جمهور رئیس کولی شی چه ددی اساسـی قانون داته نوی یمی مادی د حکم په نظر کښی نیو لو سره دقضاء ځینی واکو نه عسکری محاکمو تـه پـه لاس کښی ور کړی .

**یو سلو اوو لسمه ماده**

د اضطرار په حالت کښی حکومت کولی شی چه دستری محکمی پـه موافقی د اساسی قانون دلا ندنیـو حکمو نو چلند د جمهوری فر مانونو له مخی وځنډوی او یا پری بندیزونه ولگوی :

۱ـ ددیرشمی مادی د پنځمـی نقری حکم .

۲ـ دپنځه دیر شمی مـا دی د لمړی فقری حکم .

دراین قـــانون اساسی تعیین شده ناممکن گردد حالت اضطرار ازطرف رئیس جمهور اعلان میشود .

هرگاه حالت اضطـرار بیش از چهار ماه دوام نماید برای تـمدید آن موافقت ملی جرگه شرط است .

**ماده یکصدو پانزدهم**

درحالت اضطرار رئیس جـمهور می‌تواند تمام یا بعضی صلاحـیـت های‌ملی جرگه را بحکومت انـتقال دهد .

**ماده یکصدو شانزدهم**

درحالت اضطرار ر ئیس جمهور می‌تواند بارعایت حکم مندرج مـاده نود وهشتم این قانون‌اساسی‌قسمتی ازصلاحیت قضاء رابه محاکم‌عسکری انتقال‌دهد .

**ماده یکصدو هفدهم**

درحالت اضطرار حکومت میتواند باموافقه ستره محکمه احکام ذ یـل این قانون اساسی را توسط فرامین جمهوری معطل بسـازد و یا برآن قیودی وضع نماید :

۱ـ حکم فقره پنجم ماده سی‌ام .

۲ـ حکـــم فقره اول مـــاده سی وپنجم .

ketabton.com - The Digital Library



۳ـ دشپږ دیرشمی مادی ددریمی او څلورمی فقری حکم .

٤ـ داوه دیرشمی مادی ددوهمی فقری حکم .

۵ ـ دنهه دیر شمی مادی حکم .

### یوسلو اتلسمه ماده

داضطرار په حالت کښی جمهور رئیس کولی شی دافغانستان مرکز دکابل دښار نه بل ځای ته ولیږدوی.

### یو سلو نو لسمه ماده

که چیری دملی جرگی دغړو دوکالت دوره د اضطرار د حالت په مو ده کښی سر ته ورسیږی جمهور رئیس کولی شی چه نوی انتخابات وځنډوی او دملی جرگی دغړو دو کالت دوره داضطرار دحالت تر پایه پوری اوږده کاندی .

نوی انتخابات داضطرار د حالت په ختم پسی سملا سی اجرا کیږی.

### یو سلو شلمه ماده

د اضطرار په حالت کښی اساسی قانون نه تعد یلیږی .

## یوو لسم فصل

## تعدیل

### یو سلو یو ویشتمه ماده

ددی اساسی قانو ن د حکمو نو سره سم د اسلام د اسا سو نو د پیروی اصل او جمهوری نظام تعدیل کیدلی نه شی .

۳ـ حکم فقرات سوم وچارم ماده سی وششم .

٤ـ حکم فقره دوم ماده سی وهفتم.

۵ـ حکم ماده سی ونهم .

### ماده یکصدو هجدهم

در حالت اضطرار رئیس جمهور میتواند مرکز افغانستان را بمحل دیگری غیرازشهر کابل انتقال دهد.

### ماده یکصدو نزدهم

هر گاه دوره وکالت اعضای ملی جرگه دراثنای حالت اضطرار ختم شود رئیس جمهور می تواند اجرای انتخابات جدید را ملتوی بسازد و دوره وکالت اعضای ملی جرگه را تاختم حالت اضطرار تمدید دهد .

بعد ازختم دوره اضطرار بلا فاصله انتخابات اجرا میگردد .

### ماده یکصدو بیستم

درحالت اضطرار قانون اسا سی تعدیل نمیشود .

## فصل یازدهم

## تعدیل

### ماده یکصدوبیست ویکم

اصل پیروی از اساسات اسلام ونظام جمهوری مطابق باحکام این قانون اساسی تعدیل نمیشود .

ketabton.com - The Digital Library



داساسی قانو ن نوری برخی د تجربو او د عصر دایجا باتو په اساس د حکومت یا د گوند دمرکزی شوری یا دملی جرگی ددریمی برخی غړو په پیشنهاد ددی فصل دحکمونو سره سم تعدیل کیدای شی .

**یو سلو دوه ویشتمه ماده**

دتعدیل پر پیشنهاد لو یه جرگه غور کوی او که چیری دلویی جرگی دغړو اکثریت دتعدیل ضرورت ومنی نو دخپلو غړو له منځه یوه ډلگی د تعدیل دطرحی دتیارو لو دپاره ټاکی.

داډلگی دحکومت اوستری محکمی په سلا د تعدیل طرحه جوړ وی او لویی جرگی ته یی وړاندی کوی .

که چیری لویه جرگه دغړو په اکثریت د تعدیل طرحه و منی نــو دجمهور رئیس د ښکللو او اعلا مولو وروسته نافذه گڼل کیږی .

**دوو لسم فصل**

**انتقالی حکمونه**

**یو سلو دری ویشتمه ماده**

د دی اساسی قانون د نفاذ سره سم جمهور رئیس دحکومت دړنگولو فرمان صادروی او نوی حکومت د جمهوری دولت ددی اساسی قانون درو حیی سره سم تشکیلوی .

تعدیل دیگر محتویات قا نــون اساسی نظر به تجارب و ایجـا بات عصر به پیشنهاد حکومت ویا شورای مرکزی حزب ویایك ثلث اعضای ملی جرگه مطابق به احکام ایــن فصل صورت میگیرد .

**ماده یکصدو بیست ودوم**

پیشنهاد تعدیل را لویه جــرگه غور نموده درصورتیکه اکـــثر یت اعضای آن ضرورت تعدیل راتصویب کند هیأتی را ازبین اعضاء جــهت تهیه طرح تعدیل تعیین مینماید .

این هیات طرح تعدیل را بــه مشوره حکومت وستره محکمه تهیه نموده به لویه جرگه تقدیم میکند.

هرگاه لویه جرگه به ا کثریــت اعضاء طرح تعدیل را تصویب کند بعد ازتوشیح واعلام رئیس جمهور نافذ میگردد .

**فصل دوازدهم**

**احکام انتقالی**

**ماده یکصدو بیست وسوم**

بانفاذ این قانون اساسی رئیس جمهور فرمان انحلال حکــو مت را صادر میکند و حکومت جدید را بر طبق روحیه این قانون اساسی دولت جمهوری تشکیل مینماید .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمي جريده

## یو سلو شلیر ویشتمه ماده

ددی اساسی قانون د حکمو نو سره سم ملی جرگه د ۱۳۵۸ هجری لمریز کال دلیندی دمیاشتی په لمړی ورځ دجمهور رئیس له خوا پرانستله کیږی .

ددی اساسی قانون دنفاذ او دملی جرگی د پرانستلو تر مینځ موده د انتقال دوره گڼل کیږی .

د انتقال په دوره کښی د ملی جرگی واك اختیار په حکومت پوری اړه نیسی .

## یو سلو پنځه ویشتمه ماده

که چیری دانتقالی دوری په موده کښی یو داسی حالت رابر سیره شی چه ددی اساسی قانون د(٦٧) مادی د حکمو نو سره سم دلو یی جر گی دایر یدل وغواړی جمهور رئیس د لوئی جرگی د دایریدو اعلامیه صادر وی .

پدی حالاتو کښی جمهور رئیس دلویی جرگی ددایر یدو تر وخته پوری دلویی جرگی دټولو واکو نو څخه استفا ده کوی . جمهور رئیس دلویی جرگی د پرانستلو و روسته بی له ځنډه هغه اجرا آت چه ددی مادی دحکم سره سم یی په ځا ی کړی وی دلویی جر گی په استحضار رسوی او لویه جر گه دهغی په هکله تصمیم نیسی.

## ماده یکصدو بیست وچهارم

رئیس جمهور مطابق به ا حکام این قانون اساسی ملی جرگه را بتاریخ اول قوس سال ۱۳۵۸ هجری شمسی دایر مینماید .

مدت بین انفاذ این قانون اساسی وافتتاح ملی جرگه دورهٔ انتقال شمرده میشود .

در دورهٔ انتقال صلاحیت های ملی جرگه به حکو مت تعلق میگیرد .

## ماده یکصدوبیستوپنجم

هرگاه دردورهٔ انتقال حا لتی از حالات ظهور نماید که مطابق حکم ماده (٦٧) این قانون اساسی وجود لویه جرگه را ایجام کند رئیس جمهور اعلامیه‌ای مبنی بر دایر شدن لویه جرگه را صادر میکند . درچنین حالات تا زمان دایر شدن لویه‌جرگه رئیس جمهور تمام صلاحیت های لویه جرگه را داراء میباشد، رئیس جمهور بلافاصله بعد از افتتاح لویه جرگه اجرا آتی را که مطابق بحکم این ماده بعمل آورده به استحضار لویه جرگه میرساند و لویه جرگه درمورد آن تصمیم اتخاذ میکند .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

که دنو موږو حالاتو درا پیدا کیدو په وخت کښی لا دګوند مرکـــزی شوری یادوسله والو قواؤ عـالی شوری یا ستره محکمه ددی اساسی قانون دحکمونو سره سم نه وی جوړی شوی لویه جرګه دهغـوی دجوړیدو پرته په عنعنـــوی ډول دایریږی .

## یو سلو شپږ ویشتمه ماده

ددی اساسی قانون دیوسلواوومی مادی د حکم سره سم ستره محکمه د ۱۳۵۷ هجری لمریز کال دچنګانس د میاشتی په لمړی ورځ د جمهـور رئیس له خوا اعلا میږی .

ددی اساسی قانون دنافذ کیدو او د ستری محکمی دجوړیدو تـــر منځ موده‌کی جمهور رئیس صلاحیت اری چه دستری محکمی دوظیفـــو داجراء د تامین دپاره لازم تدبیرونه غوره کړی .

## یو سلو اوه ویشتمه ماده

هغه تقنینی فرمانونه چه‌دانتقال په دوره کښی نافذ شوی وی دملی جرګی دپرانستلو وروستـه دهغی په لومړنی اجلاس کښی ددیرشو ورځو په موده کښی دننه ملی‌جرګی ته دتصمیم نیولو دپاره وړانـــدی کیږی .

هرگاه در موقع ظهور یکی از حالات مذکور هنوز شورای مرکزی حزب ویا شورایعالی قوای مسلح ویا ستره محکمه مطابق با احکام این قانون اساسی تشکیل نشده باشد لویه جرگه بدون موجودیت آن به شکل عنعنوی دایر میگردد.

## ماده یکصدو بیست و ششم

رئیس جمهور مطابق بحکم مندرج ماده یکصدو هفتم این قانون اساسی تشکیل ستره محکمه را بتاریخ اول سرطان ۱۳۵۷ هجری شمسی اعلام مینماید .

رئیس جمهور از تاریخ نفاذ این قانون اساسی الی زمان تشکیل ستره محکمه بمنظور تامین اجرای وظایف آن تدابیر لازم را اتخاذ مینماید .

## ماده یکصدو بیست وهفتم

فرامین تقنینی ایکه‌در دورۀ انتقال نافذ میگردد بعد از دایر شدن ملی جرگه در اولین اجلاس آن در ظرف سی روز به ملی جرگه جهت اخذ تصمیم تقدیم میشود .

ketabton.com - The Digital Library

# رسمی جریده

## یو سلو اته ویشتمه ماده

په انتقالی دوره کښې حکومت مؤظف دی چه :

دملی جرگې دانتخاباتو ،مطبوعاتو ، اجتماعاتو او ددولت داساسی تشکیلاتو تقنینی فرمانونه جوړ او دجمهور رئیس په‌ښکللو یې‌ورسوی.

## یو سلو نهه ویشتمه ماده

په انتقالی دوره کښې حکومت داجرا آتو دیو شانته والی او ددولت دکړنلارو د عملی کیدو او تطبیق په منظورددی اساسی‌قانون دحکمونو سره سم‌لازمی لاری‌چاری غوره‌کوی.

## یوسلو دیرشمه ماده

په انتقالی دوره کښې ددی اساسی قانون د خلویښتمی مادی د حکمه سره سم دملی انقلاب دگوند اساسنامه چه دافغانستان دخلکو د۱۳۵۲ کال د چنگاښ د ۲۶ نیټې د مترقی او ولسی انقلاب بنسټ ایښو دونکی او مخکښی گوند دی دلمړنی گوندیه توگه دجمهور رئیس له خوا نافذ او اعلا میږی .

## یو سلو یو دیر شمه ماده

په انتقالی دوره کښې دوسله والو قواؤ عالی شوری دجمهور رئیس له خوا تاسیس او اعلا میږی .

## ماده یکصدو بیست وهشتم

دردوره انتقال ، حکومت موظف است که :

فرامین تقنینی مربوط به‌انتخابات ملی جرگه ، مطبوعات ، اجتماعات وتشکیلات اساسی دولت را ترتیب نموده وبه توشیح رئیس جمهور برساند .

## ماده یکصدو بیست ونهم

در دوره انتقال ، حکومت تدابیر لازم را جهت هم آهنگ ساختن اجراآت ، تطبیق و عملی نمودن پروگرامهای دولت بر طبق احکام این‌قانون اساسی اتخاذ مینماید .

## ماده یکصدوسی‌ام

دردوره انتقال ، مطابق بحکم ماده چهلم این قانون اساسی اساسنامه حزب انقلاب ملی بحیث اولین حزب که بانی وپیش آهنگ انقلاب ملی و مترقی (۲۶) سرطان سال ۱۳۵۲ مردم افغانستان است ازطرف رئیس جمهور نافذ و اعلام میگردد .

## ماده یکصدوسی ویکم

دردورهٔ انتقال رئیس جمهور شورایعالی قوای مسلح را تاسیس واعلام مینماید .

ketabton.com - The Digital Library



### یوسلو دوه دیرشمه ماده

د انتقال په دوره کښی جمهور رئیس واك لری چه دده د وفات په حالت کښی د جمهوری ریاست د وظایفو دپه‌ځای کولودپاره دجمهوری ریاست یوه موقته شوری دفرمان په وسیله په نظر کښی ونیسی .

دجمهوری ریاست موقته شوری مکلفه ده چه دوفات دنیتی‌څخه دلسو ورځو په موده کښی دنوی جمهور رئیس دانتخابولو دپاره لویه جرگه په عنعنوی توگه دایره کړی .

## دیارلسم فصل

## عمومی حکمونه

### یوسلو دری دیرشمه ماده

د جمهوری نظام لومړنی لویه جرگه به چه د ۱۳۵۵ هجری لمریز کال دسلواغی د میاشتی په لسمه نیټه د کابل په ښار کښی چه د افغانستان مرکز دی دایریږی د افغانستان د جمهوری دولت لمړنی جمهور رئیس به دخپلو غړو د دوو ثلثو درایو په اکثریت سره دیوی شپږ کلنی مودی دپاره انتخابوی .

### یو سلو خلور دیرشمه ماده

دوسله والو قواؤ صاحب منصبان پولیس ، او دبهرنیوچارو دوزارت مامورین خپله او همسران یی باید د افغانی موراو افغان پلاره زیږیدلی وی .

### ماده یکصدو سی‌ودوم

دردوره انتقال ، رئیس جمهور صلاحیت دارد تابه منظور اجرای وظایف مقام ریاست جمهوری در حالت وفات وی شورای مؤقت ریاست جمهوری را باساس فرمانیکه درمورد صادرمینمایدپیشبینی کند.

شورای مؤقت ریاست جمهوری مکلف است که در ظرف ده روز از تاریخ وفات لویه جرگه را برای انتخاب رئیس جمهور جدید به‌شکل عنعنوی دایر نماید .

## فصل سیزدهم

## احکام عمومی

### ماده یکصدو سی وسوم

نخستین لویه جرگه ایکه در نظام جمهوری بتاریخ دهم دلو ۱۳۵۵ هجری شمسی در کابل مرکز افغانستان دایر میشود اولین رئیس جمهور دولت جمهوری افغانستان‌را باکثریت دوثلث آراء اعضاء برای مدت شش سال انتخاب مینماید .

### ماده یکصدو سی وچارم

صاحب منصبان قوای مسلح ، پولیس ومامورین وزارت امور خارجه باید خود و همسر شان از والدین افغان متولد باشند .

رسمی جریده

**یو سلو پنځه دیر شمه ماده**

ددی اساسی قانون دتفسیر واکداره مرجع ستره محکمه ده .

**یو سلو شپږ دیر شمه ماده**

ددی اساسی قانون دنافذ کیدو سره سم پخوانی اساسی قانون او د۱۳۵۲ هجری لمریز کال دزمری د میاشتی دځلور می نیټی ، لومړی گڼه دوهمه گڼه او دریمه گڼه جمهوری فرمانو نه لغو گڼل کیږی .

د ټولو هغو قوانینو احکام چه ددی اساسی قانون دنافذ کیدو نه مخکښی صادر شوی دی پدی شرط نافذ گڼل کیږی چه ددی اساسی قانون دحکمو نو او ارزښتو نوسره تناقص ونلری .

**ماده یکصدو سی وپنجم**

مرجع باصلاحیت تفسیر ایـن قانون‌اساسی ستره محکمه میباشد.

**ماده یکصدو سی وششم**

بانفاذ این‌قانون اساسی قانون اساسی سابق و فرامین جمهوری شماره اول، دوم وسوم مؤرخ چارم اسد سال ۱۳۵۲ ملغی شناخته میشود .

احکام قوانینیکه قبل از انفاذ این قانون اساسی صادر گردیده به شرطی نافذ شمرده میشود که مناقض احکام وارزشهای این قانون اساسی نباشد .



ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# دکلنی گډون بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښې | (۲۲۰) افغانی |
| په ولایاتو کښې | (۲۴۰) افغانی |
| د پوهنې شاګردانو ته | نیمه بیه |
| په باندنیو هیوادو کښې | (۱۵) امریکائي دالره |

ددې ګڼې بیه (٤٠) افغانی

ketabton.com - The Digital Library

THE REPUBLIC OF AFGHANISTAN

OFFICIAL GAZETTE

# Constitution of The Republic of AFGHANISTAN

ADDRESS: MINISTRY OF JUSTICE
KABUL AFGHANISTAN
EDITOR: M.H. TUGHYAN.
DATE : APRIL 4, 1977
ISSUE NO. (360)

شماره اول
تعداد طبع (۳۰۰۰) نسخه
تاریخ : دوشنبه (۱۵) حمل سال۱۳۵٦

دولتی مطبعه

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*